د افغانستان جگړه کې

# د امریکا د استخباراتو رول

**لیکوال: د. صالح زهر الدین**

**ژباړن: هدایت الله همیم**

بسم الله الرحمن الرحيم

## منځپانګه

(په نړۍ کې د امنيت او استخباراتو دائرة المعارف) ....................................................
د ليکوال مقدمه......................................................................................................
ليکوال صالح زهرالدين ..........................................................................................
د افغانستان جګړه کې د امريکا د استخباراتو رول ....................................................
امريکا ته د افغانستان اهميت ...............................................................................
څومره غواړي؟ ......................................................................................................
ناوړه او ښه جګړه ..................................................................................................
د سپتمبر ۱۱ مه .....................................................................................................
د افغان نظام پروړاندې د امريکا مداخله ..............................................................
د ايران او پاکستان رول ........................................................................................
د پاکستاني شتمنو جيبونه ....................................................................................
د منځني ختيځ پيسې او خيراتونه ........................................................................
د سي ای اې او ای اېس ای همکاري .........................................................................
کابل کې کودتا ...................................................... ..........................................
د سره پوځ ننوتل ...................................................... ..............................................
د سترګو ليدلی حال ........................................................ ...........................................
د ملي امنيت شورا ۱۱ مهم ټکي ............................................................................
د طالبانو تحريک جوړېدل ......................................................................................
جنرال حميد ګل .......................................................................................................
له مرستو انکار .......................................................................................................

ستينگر توغندي ........................................................ .................................................
د افغان جهادي تنظيمونو تمويل ........................................................................................
د يوه ډالر مقابل کې يو ډالر ..........................................................................................
اسامه او د بن لادن شرکت ...............................................................................................
پر ايران د ستينگر خرڅول ...............................................................................................
نوی امريکايي ويتنام .........................................................................................................
امريکا افغانستان هېر کړ ....................................................................................................
اسامه او طالبان .................................................................................................................
د ايران انزوا پکار ده .........................................................................................................
اخځليکونه .......................................................................................................................

## (په نړۍ کې د امنیت او استخباراتو دائرة المعارف)

د لیکوال په ''نړۍ کې د امنیت او استخباراتو دائرة المعارف''، چې په ۱۲ ټوکو کې یې لیکلی، چې د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې له لویو استخباراتي عملیاتو پرده پکې پورته شوې ده. دا ټولګه چې پخپل ډول کې جامع او نوې ګڼل شوې، چې د څارګرۍ په برخه کې پټ رازونه، معماګانې، او د استخباراتي معلوماتو تر لاسه کولو لپاره ګټې لارې پکې په ډاګه شوې دي.

کتاب دا ځانګړتیا هم لري، چې په ښکاره یې د استخباراتي سازمانونو له خوا د خپل ''ښکار'' ترلاسه کولو لپاره مهم پلانونه، لارې چارې او وسیلې ډاګیزه کړې دي. په کتاب کې لوستونکو ته دا سپارښتنه هم شوې ده، چې د پردیو استخباراتي سازمانونو له بېلابېلو غولوونکو لارو ځانونه وژغوري او پرورانډې یې ځان هوښیار کړي، هسې نه چې د ''زر او زور'' له لارې یې په لومو کې ونښلي او په پای کې بالاخره د خپل هېواد، خاورې او ولس پرورانډې خائن ثابت شي. تر دې هاخوا هغه کسان هم په استخباراتي دسیسو خبر کړي، چې په غیر ارادي توګه ورکشول کېږي.

د امنیت او استخباراتو په تړاو دغه ټولګه په څو کلونو کې لیکل شوې ده، یوازې د یوې ډلې لپاره نه ده کښل شوې، بلکې د ټولو خلکو لپاره او د ټولو خلکو او سازمانونو په اړه ده.

## د لیکوال مقدمه

د انسان ژوند د ډېرو پټو رازونو یوه لویه زېرمه ده، چې ځینې یې په ډاګه شوي، او ځینې نور یې په تاله شویو دوتنو، زېرمو او خونو کې پټ پاتې دي او د مناسب وخت او حالاتو په رسېدو سره افشا کېږي... خو دغه ټول پټ رازونه ''له اسمان نه'' نه دي رالوېدلي، بلکې پخپله انسان د نورو انسانانو لپاره جوړ کړي، همدغه انسان یې هدف او موخه دی.

په حقیقت کې، کله چې اصول له منځه ولاړ شیو تاریخ هم ورسره ختمېږي، هېڅ انسان بې تاریخه نه دی او هېڅ تاریخ له انسان پرته نه شته. د تاریخ هېڅ داسې ورځ نه ده تېره شوې، چې د یوه ډېر مهم پټ راز شاهده دې نه وي. له همدې پیلامې، موږ باید د تاریخ د پېښو ژورو ته ورننوځو، په ډېره ځیرکتیا یې ولولو او په رڼا کې یې عبرت او پند واخلو؛ ځکه چې تاریخ د ټولو پېښو او حقیقتونو ژوند عیني او ریښتینی شاهد دی.

که علم او ساینس هرڅومره پرمختګ وکړي، په پای کې همدغه انسان اساس او مهم پاتې کېږي. له دقت سره ټول اکتشافات د انسان ځای نه شي پوره کولی، همدغه انسان د اړیکو او شفر په ډګر کې اساسي عنصر پاتې کېږي. په نړۍ کې ټولې جګړې، دسیسې، کودتاوې او پېښې، پخپله د انسان کړنه ده، چې په ځانګړو ځایونو کې یې منظموي او عملي کوي او د ''تورو کورونو'' دهلیزونه له سترګو لیرې د ځینو خاصو، قوي او ځیرکو خلکو په لاس کې

دي، چې ځينې يې پوځي او علمي رتبې لري، او يوازې د دوی په لاس کې د هېوادونو او ولسونو برخليک ټاکل کېږي. دوی (د استخباراتو کسان) دي، چې د پردې ترشا نړۍ تحريکوي.

د ډېرى نړيوالو دسيسو د لاملونو د څېړلو په لړ کې او د جاسوسۍ، څارګرو او وژنو د شبکو په افشا کېدو سره وينو چې دا ټول کارونه د انسانانو دي او له لومړي سره دوی نه پېژندل کېږي، خو موږ يې کارونه احساسولی شو او يا په ناڅاپي توګه دوی افشا کېږي، يا د يوه لامل له مخې او يا هم چې کومه تېروتنه وکړي. همدوی (استخبارات) ګڼل کېږي.

هرڅومره چې د جاسوسانو رتبه لوړه شي، او توان يې اوج ته ورسېږي، او زړورتيا ژوره چوپتيا يې ډېره شي، خو په پای کې دوی هماغه انسانان دي، يوازې په ځينو کارونو کې له نورو انسانانو سره توپير لري. دوی هم د نورو انسانانو په څېر له تېروتنې سره مخامخ کېږي، خو چې تېروتنه وکړي، په پای کې يې د جاسوسۍ اساسي رول او استخباراتي ماموريت پای ته رسېږي. خو د دوی په نزد، دوی (هېڅ خاوره نه لري). راز راستل ډېر ورته ضرور او مهم دي... اهميت يې په پټ ساتلو کې دی، داسې چې پټ راز پاتې شي. په همدې راز کې قوت او کمزوري نغښتې ده. او همدغه په جګړه کې د بريا مهم شرط او د اغېزناکې ديپلوماسۍ يوه بڼه ده. کله چې استخبارات په دنده کې د يوه وينې او ځيرک ساتونکي په څېر وي، نو د فعاليت تاريخ يې لرغونتوب ته رسېږي، په ټولنو او ولسونو کې د سياليو تر قدامته رسېږي؛ ځکه ځان پوهول او معلومات ترلاسه کول بايد د جګپوړو ملکي او پوځي چارواکو تر غوږونو ورسول شي، چې په دې سره د ملي امنيت د ټينګښت لپاره د دوی کار ممکن وګرځي.

ددغه امنيت پربنسټ، په ۱۹۵۹ کال د امريکا ولسمشر ايزنهاور په امريکا کې د استخباراتو د نوې ودانۍ د بنسټ اېښودو په مراسمو کې وويل: ''د امريکا په سياست کې د استخباراتو په مټ د معلوماتو له راغونډولو پرته بل مهم کار نه شته''.

د دغه هدف د پوره کېدو لپاره، بايد د ځيرکو سترګو او جاسوسانو يوه لښکر جوړ شي او ددغه کار د ترسره کولو مسؤوليت يې د بېلابېلو لارو او چل له مخې پرغاړه واچول شي او خپل هدف ته پرې ځانونه ورسوي، يو پټ راز دا هم دی چې انسان له بل انسان نه ووېرېږي. په هر هېواد کې د جاسوسۍ او استخباراتو سازمان د روغتون د جراحي عملياتو د خونې په څېر دی، هلته غياب سره د دښمن جسم پکې شنل کېږي او د غړو حرکتونه پکې معلومېږي. تر هغو چې د دولتونو ترمنځ حدود وي، نو جاسوسي هم بايد پکې وي، نو په اصل کې د دوی کارونه پای نه مومي او شبکې يې يوډل سره جګړه ده، خو د صهيونيستانو د پخواني استخباراتي مشر ايسر هرييل په وينا، د وسلې او اور پرځای د فکر جګړه ده. خو د هابرټ هوفر په حکومت کې د بهرنيو چارو وزير هنري سيټمسون جاسوسي (د نورو د ابرو وړلو په معنا وبلله). همدا وو چې په ۱۹۲۹ کال يې (د امريکا توره خونه) وتړله.

هر انسان د جاسوسۍ توان نه لري. هرڅوک چې دې خطرناک کار ته ملا تړېو بايد ځينې ځانګړتياوې ولري؛ لکه جرأت، زغم، ځيرکتيا، ښه پرېکړه، او له اصلي سرچينو نه د خبرونو او معلوماتو ترلاسه کولو توان، له داسې نښې هم بايد ډډه وکړي چې خپل عقل پکې له لاسه ورکوي او خپل ټول پټ رازونه افشا کړي او په لاس کې مهم اسناد يې له لاسه ووځي. دا کار په ديپلوماتيک ډګر کې سفيرانو ته هم پکار دی چې د (شريفو جاسوسانو) توری ورته کارول کېږي.

دا چې جاسوسي او استخباراتي غونډال د هر دولت د ژوند، پرمختګ او بقا لپاره د (ملا تیر) ګڼل کېږي، ګڼ دولتونه او حکومتونه غالباً د استخباراتي سازمانونو پر جوړولو ډېرې پیسې لګوي، ترڅو د جاسوسۍ لپاره وړ کسان وګوماري. ځینې پکې د نړۍ بل لوري ته له استول کېدو مخکې په استخباراتي ښوونځیو، مؤسسو او انستیتیوټونو کې کلونه کلونه وخت تېروي. د پټې جګړې په نړۍ کې شوروي اتحاد د جاسوسانو ګومارلو کې د جاسوسۍ لومړی مقام ګټلی و او د څو کلونو لپاره به یې خپلو جاسوسانو ته د یوه دقیق او پېچلي سیسټم په چوکاټ کې تمرینونه او روزنه ورکوله. ان ځینو به دغې روزنې ته دا ټکی هم کاراوه چې ګني (دوی له اوسپنیز ښوونځي فارغ شوي).
جاسوسي له ډېرو لارو کېدای شي. مصریانو له شاوخوا پنځو زرو کلونو راهیسې د جاسوسۍ له ډېرو ناشنا لارو استخباراتي کارونه کول، ویل کېږي په لرغونې زمانه کې د کپتان (توت) په نامه یوه افسر د خپلو جاسوسانو په مټ د غنمو او اوړو په بوریو کې دوه سوه مسلح پوځیان (یافا) سمندرغاړې ته داخل کړل... همدوی هلته بریدونه وکړل او سیمه یې ازاده کړه.

د بدر په غزا کې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) خپل دوه اصحاب د مشرکینو د ځواکونو په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره واستول. او د بدر څاه ته نژدې یې د قریشو دوه ماشومان په اوبخور ولیدل، دواړه یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته حاضر کړل او د مشرکینو د شمېر معلوملو لپاره یې ترې وپوښتل چې دوی هره ورځ څومره اوښان حلالوي، دواړو وویل چې هره ورځ نهه یا لس اوښان حلالوي، نبي (صلی الله علیه وسلم) پوی شو چې د مشرکینو شمېر د نهه سوو او زرو ترمنځ دی، ځکه چې عربان معمولاً د سلو کسانو لپاره یو اوښ حلالوي.
د مغولو زمانه کې لویو جاسوسانو د خپل مشر چنګیز خان لپاره مهم رول لوبولی، همداشان د 'سبتای' او 'نورین' لپاره یې هم کار کړی. نویون د سپرو جنګیالیو په مشرۍ د چین امپراتور ته د هغه د مرستې لپاره واستول شو، همدا کار پر چین د چنګیز خان د واکمنۍ لامل وګرځېد.

تاريخي سرچينې په ډاگه کوي چې عربانو هم له ډېرو پېړيو راهيسې له جاسوسۍ گټه اخيسته. مهلّب چې له خوارجو سره يې جگړه کوهل، خپل ځارگر د خوارجو کنډک ته واستول چې د هغوی د فعاليتونو، خوځښتونو، شمېر او وسلو په اړه معلومات ترلاسه کړي... له دوی سره يې په چل ول جگړه وکړه همد اوو چې پرې  لاسبری شو. همداشان، معاويه بن ابي سفيان په (صفّين) جگړه کې د امام علي بن ابي طالب پروړاندې همدا کار وکړ. په پوځ کې يې جاسوسان ورداخل کړل او د پوځ، اختلافاتو او وېش په اړه يې معلومات ترلاسه کړ.. له همدې اختلاف او وېش په گټې اخيستو معاويه خلافت ته ورسېد او پر هغوی بريالی شو.

له لومړۍ نړيوالې جگړې وروسته فلسطين او عربي نړۍ کې د صهيونيستي او بريتانوي جاسوسانو له لارې جاسوسي روانه وه. (ساره ارونسون) او د هغې ملگرو د صهيونيستي يهودي (بيت روټشيلډ) په مټ د جاسوسۍ شبکه مخته بېوله او بريتانيايي دوکتور (هوگارټ) او د هغه شاگرد لارنس (چې په عربانو په لارنس شهرت لري) تر ټولو لوی ثوبت دی.

همداشان، په دويمه نړيواله جگړه کې هم د 'گستابو' (د جرمني نازيانو استخبارات) د يوه افسر (الفريډنوجوکس) له لارې د هغه د مشر 'هملر' په امر د استخباراتي جگړې اور بل شو، چې په اوږدو کې يې د لويو جاسوسانو نومونه څرگند شول. تر لمر روښانه ده چې استخباراتو د گنو خلکو ژوند ژغورلی، دا کار د جگړو له پيلېدو وړاندې ترسره شوی.

دلته د امریکا د پخواني ولسمشر ابراهام لنکولن ـ چې په امریکا کې د غلامانو ازادوونکی ګڼل کېږي ـ وینا د راوړلو وړ ده چې ویلي یې وو : ''اې انسانه، تر یوه وخت پورې ټول انسانان تېر ایستلی شې، او ټول وخت له ځینو خلکو سره ګوري کولی شې، خو دا توان نه لرې چې تل دې ټول انسانان تېرباسې''.

'په نړۍ کې د امنیت او استخباراتو دائرة المعارف' په دې برخه کې یو اساسي ګام دی، داسې چې د ځینو هغو نړیوالو استخباراتو چارې بربنډې کوي چې د ناورینونو لامل ګرځېدلي، او د ځمکې په سر یې انسانانو او ولسونو ته بدبختۍ راوړې دي او لاهم انسانانو ته د پردې ترشا اذیت رسوي.

دوکتور صالح زهرالدین

## لیکوال صالح زهر الدین

دوکتور صلاح زهر الدين د لبنان يو څېړونکی، مؤرخ او لبنان پوهنتون کې د تاريخ او سياحت د څانګې استاد دی او نومورړی د لبنان د ليکوالو او د عربي دولتونو ټولنه کې د عربو تاريخپوهانو د ټولنې غړی دی. صلاح زهر الدين په ۲۰۰۳ کال د لبنان د ملي جمهوري استحقاق په نامه مډال هم ګټلی دی.

## د افغانستان جګړه کې د امریکا د استخباراتو رول

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې په نړۍ کې د واک، تسلط او نفوذ د ترږو قوتونو د شخړې یو پرېکنده تمځای پاتې شوی. د نړۍ ډېر کم هېوادونه د افغانستان په څېر د جغرافيې او تاریخ ترمنځ پر یو او بل پورې تړلي پاتې شوي. همدا وو چې ایټالوي سیلاني 'مارکوپولو' افغانستان ''د نړۍ چت'' بللی دی. لوی عربي لیکوال حسنین هیکل بیا افغانستان ''پخپل موقعیت کې ګیر او پخپل تاریخ کې ایسار هېواد'' بللی دی.

رښتیا هم افغانستان ـ د خپل اوږده تاریخ په لړ کې ـ یو ناشنا پول پاتې شوی، خو داسې هوار پول چې هر ډول دسیسو او فتنو په اسانۍ پرې لاره موندلې ده؛ ځکه د افغانستان غرنۍ طبیعت او لوړې نیمه بندې درې، او شخه هوا یې د هرچا خوښه شوې ده دا هېواد منزوي شوی او منزوي کوونکی پاتې شوی، په سختۍ د لارویانو لاره ګرځېدلې.

د افغانستان جغرافيايي موقعيت د اسيا په زړه کې دی، دقيقاً د ''اسيا زړه'' دی. لکه څرنګه چې د شلمې پېړۍ په لومړيو کې د هند نائب المُلک لارډکيرزون چې ويلي.

ګن وګړي يې په غرنيو سيمو کې اوسېږي، ځينې يې قبائل په افغانستان او ځينې يې بيا له پولې هاخوا ژوند کوي، چې افغانستان د توکم له اړخه پر درو سيمو وېشل کېدای شي:

شمال: تاجکان او اوزبک تر ډېره په شمال کې دېره دي، ځينې يې په افغانستان کې دي او ځينې نور تاجکان او ازبکان د تاجکستان او اوزبکستان په څېر د پخواني شوروي اتحاد په جمهوريتونو کې ژوند کوي.

مرکز: په مرکزي سيمو کې ''هزاره ګان'' ژوند کوي، دوی د مغولو د کډوالو پاتې شوني دي، چې له ختيځ نه لوېديځ ته لېږدېدلي يوه برخه يې په افغانستان کې مېشت شوې او نور يې د ايران ختيځ ته اوښتي.

سوېل: په بشپړه توګه پښتانه قبايل پکې مېشت دي. ددغو قبائلو ځمکه، ژبه او کورنی کلتور د پاکستان له شمال سره يوشان دی.

افغانستان پخپل معاصر تاريخ کې د هغو امپراتوريو د شخړو په منځ کې ژوند کړی، چې د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې يې په اسيا کې د خپل قلمرو پر پراخولو سيالي درلوده:
د بريتانيا امپراتورۍ په هند کې د خپل قيمتي تاج او تخت او موقعيت د ساتلو هڅه کوله.

روسي امپراتورۍ په ختيځ کې د خپلې لمنې له غځولو وروسته پر جنوب په دې هيله فشار ډېر کړ چې په هندي سمندر کې ګرمو اوبو ته ځانونه ورسوي او ارام سمندر ته يې ځان ورساوه.
فرانسې په 'چينايي هند' کې لوړو ځايونو ته د غرونو له سرونو د ټوپ اچولو هڅه وکړه ترڅو د بريتانيا او روسيې هڅې وڅاري.

د افغانستان طبيعت ډېر نازړه سوانده دی، ان تر دې چې په هند کې نائب المُلک لارډ کيرزون يې د (شلمې پېړۍ لومړيو کې) د امپراتورۍ داسې منطق وړاندې کولو ته اړ کړ چې: ''د افغانستان د نيواک اړتيا نه شته، موږ ته يې پېرل ارزانه تماميږي ''. د افغانستان پېرل ممکن وو، ځکه چې د اجناسو تګلوري په ټکر کې وو، او د قبائلو خواخوږي له هغو سره وه چې زور (وسلې) او زر يې ورکول. د افغان ولس وضعيت په سختګيرۍ توصيف شوی، داسې هم ويل شوي: ''خدای پاک چې طبيعت او خلک پيدا کړل او خلک يې د ځمکې پرسر پر څو برخو ووېشل د هر شي بقايا يې پرېښوده: د طبيعت پاتې شونی او د انسانيت بقايا، دا ټولې پاتې شونې يې د ځمکې پر سر سره راټولې کړې او په يوځای کې يې کېښودې، چې د هغه ځای نوم افغانستان دی.''

### امريکا ته د افغانستان اهميت

په حقيقت کې، امريکا ته د افغانستان اهميت يوازې پر دغه هېواد پورې محدود نه دی، بلکې نور داسې حساس ستراتيژيک هدفونه هم ورته مهم دي چې له يوې خوا له اتومي اړخه ټراو ورسره لري او له بل پلوه د افغانستان په ګاونډ کې د تېلو، ګازو او کانونو پر موجودو سرچينو واک ترلاسه کول دي. افغانستان د امريکا لپاره په يوه وخت کې د زينې او ټوپ وهلو د ځای په توګه قرار لري، دا اهميت يې وروسته تر هغه ډېر شو چې د کسپين سمندر سيمو او هغو اسلامي جمهوريتونو کې د پرېمانه تېلو په اړه يې معلومات ترلاسه کړل، چې د پخواني شوروي اتحاد له ماتېدو وروسته يې خپلواکۍ واخيستې. همدا وو چې د امريکا خولې اوبه ورته وکړې او پر دغو سرچينو د واکمنېدو لپاره يې اشتها ډېره شوه، خو د نفوذ د قوت او پخوانۍ واکمنۍ سيالانو (روسيه ـ

ایران ـ چین ...) ته یې پام و، چې د راتلونکي ستراتیژیک اړدوړ په چوکاټ کې یې د خلیج د تېلو مهم ردیف ګڼل کېږي، چې په همدې بنسټ په بېلابېلو کچو یې د واکمنۍ لمن او پراختیا ټاکل کېږي.

په دې اساس سره، پر افغانستان د امریکا د اهمیت معنا او ابعاد په ډاګه کېږي، داسې چې له ډېرو کلونو راهیسې امریکا په دې چوکاټ کې له دې کبله خپل ټول امکانات وکارول چې خپلو ستراتیژیکو، اتوم، نفطي او سیاسي هدفونو ته ځان ورسوي. د افغانستان د جګړې په ډنډ د روسیې ښکېلتیا هم د امریکا دسیسه او د ''امریکایي ویتنام'' غچ اخیستل وو... خو هغه څرنګه؟

د افغانستان د پېښو په تعقیب د پاریس او مسکو ترمنځ د ''حساسو اړیکو'' په چوکاټ کې د فرانسوي استخباراتو معلومات د روسیې د څارګرو له معلوماتو سره هغه مهال سر خوري، چې د مرکزي استخباراتو سازمان د (هغه وخت د ولسمشر بېل کلنټن په وړاندیز) سره په تعلیم کې د ''طالبانو'' ځینې مخکښ غړي په امریکایي پوهنتونونو او انستېتیوتونو کې د اتومي فزیک زده کړو ته وروبولي.

ددغو معلوماتو پربنسټ، افغانانو او پاکستانیانو څنګ په څنګ د سي ای اې په سکالرشیپ زده کړې کولې. دوی په زده کړو کې خپله پوره وړتیا وښوده او د خپلو ښوونکو پام یې ځان ته ورواړاوه، ان تر دې چې د پوهنتون ادارې (چې د ماساچوست نوم پکې یاد شوی) د امریکا له اتومي بنسټونو سره د دغو کسانو د یوځای کېدو سپارښتنه وکړه.

د فرانسې او روسیې معلومات په دې اړه هم یوشان دي چې امریکایانو غوښتل اوس له ''طالبانو'' داسې یو اتومي قوت جوړ کړي چې د ایران ماتولو کې گټه ترې واخلي. په تېره بیا د کلنټن په اداره کې یهودي ډلې همدا غوښتل او ایران یې اسرائیلو ته یو ریښتینی خطر باله. په تېره بیا د ځو کلونو په درشل کې چې کله د اتومي پروگرام عملي کېدو او د اتومي سروکو د تولید کچې ته ورسېږي.

دغه معلومات دا هم په ډاگه کوي چې واشنگټن له اسلام اباده وغوښتل چې له ''طالبانو'' سره په اټومي برخه کې معامله وکړي او د سعودي عربستان اسامه بن لادن ـ چې تر ډېره یې خپلې پیسې پر طالبانو لگولې ـ له پاکستان سره پر پوله په یوه پېچلې غرنۍ دره کې شاوخوا ۱۱۰ کیلومتره لیرې د پروژې تمویل پر غاړه واخلي.

ددغې همکارۍ په چوکاټ کې اسلام اباد د طالبانو تحریک ته هغه لازم مواد او توکي ورکول، چې د معلوماتو له مخې له نورو سرچینو نه یې د لازمو پیسو په مقابل کې ترلاسه کول ممکن وو. په عملي توگه د هغه ''ککړ بم'' د تولید برخه کې د دغې پروژې یو پړاو تر یوه حده مخته هم ولاړ، چې د چاودلو په صورت کې یې مرگوني سپرمغي خپرولای شوی، او اټکل دا و چې طالبان به په ۲۰۰۴ کال د خپل ''پاک'' بم په تولیدولو کې بریالیتوب ته ورسېږي، څو څوک خبر وو چې د پروژې په اړه به یې له واشنگټن سره اړیکي مخ پر ځوړ کېږي.

ان تر دې چې د سي ای اې مشر جورج ټینیټ هڅه دا وه چې ورکړل شوي اټومي توکي او امکانات دې بېرته راستانه کړل شي او پروژه دې بشپړه ودروله شي، خو نوموړی پخپل کار کې بریالی نه شو.

د پاريس او مسکو معلومات ښيي چې د امريکا په اټومي بنسټونو کې نژدې ۹۰ پاکستانيانو او ۲۰ افغانانو کار کاوه او لږترلږه ۱۱ نورو پاکستانيانو د امريکا په فضايي اژانس (ناسا) کې پرته له دې چې خطر جوړ کړي کار کاوه. په دوی کې افريقا الاصله امريکايان او مسلمان شوي سپين پوستي مسلمانان هم وو. دا شمېره ۷۰۰ کسانو ته رسېدونکې وه، چې ډېری يې ''ماهر مسلمانان'' وو. که څه هم دوی نه احساسوله، خو ټول تر کلکې څارنې لاندې وو، همدا وو چې گومارونکو ادارو ته يې لوی سرخوږی جوړ کړ، داسې چې د دوی له ډلې يوه سره يې نا معموله رويه هېڅ امکان نه لري چې پر نورو دې اغېز ونه کړي، ځکه په ۷۰۰ کسانو کې نژدې سل يې د امريکا د اټومي او فضايي فعاليتونو ستنې او بنسټونه گڼل کېدل.

په دې سره، د افغانستان په جگړه کې د هرڅه مسؤوليت د امريکا پرغاړې اچولو د تلافي لپاره، امريکا په دې نړيواله شخړه کې د هر راز ناوړه پايلو لرلو مسؤوليت لري، د يوه دولت په توگه د امريکا متحدو ايالتونو هڅه کوله چې په دا شان خطرونو کې ځان له ښکېلتيا لرې وساتي او خپلو (اسلامپالو)''ملگرو'' ته له يوې خوا د ''بې دينه شوروي'' جبهې پرضد د ''مسلماني'' جبهې پر جوړېدو پانگونه وکړي او له بل اړخه يې د مرکزي استخباراتو سازمان (سي ای اې) ته امر وکړ چې لومړی د شوروي په وړاندې د ''پټ جهاد'' مشري وکړي، او بيا د هغو ''اسلامپالو'' په وړاندې توره راواخلي، چې همدغو استخباراتو په پيل کې د ''مجاهدينو'' په توگه رامنځ ته کړي وو او په پای کې ـ د امريکا له ورسپارل شوې دندې وروسته ـ دوی د ''ترهگرو'' په نامه ختم کړي او جرړې يې وباسي.

همدارنگه، له ۱۹۷٦ تر ۱۹۸۹ کال پورې، افغانستان د مرکزي استخباراتو د سازمان د پټو مداخلو او فعاليتونو ډگر گرځېدلی و. په لومړي ځل ددغې مداخلې پر وړاندې د جمهوري گوند بېل ماکولام نيوکه وکړه او پايلې يې ناوړه وگڼلې. د دغو پټو لسو کلونو فعاليتونو په لړ کې، د امريکا ادارو په افغانستان کې د پټو فعاليتونو لپاره د کال دوه ميلياړده ډالر لگول. همداشان (سي ای اې) هغه ډول وسلې رامنځ ته کړې چې افغانانو د شوروي الوتکو پرضد کارولای شوې.

د امریکا متحدو ایالتونو د افغانستان ملاتړ په ویتنام کې له شورویانو او د هغوی د رول د غچ اخیستلو غوره لاره ګڼله. د (سي ای اې) مشرانو داسې انګیرله چې افغانستان د شوروي اتحاد په ضد د امریکا ویتنام ګرځېدلی شي. په تېره بیا د شوروي اتحاد تر چتر لاندې د منځنۍ اسیا شپږ مسلمان دولتونه پراته دي، چې ډېری یې له افغانستان سره ګډې پولې لري.

د افغانستان له مهمو تنظیمي قومندانانو یو ګلبدین حکمتیار و، چې له پاکستاني استخباراتو سره یې ګډې هڅې کولې او ای اېس ای په دې کلونو کې له (سي ای اې) سره ټینګه همکاري درلوده ـ واشنګټن پوست (۱۰/۹/۱۹۸۹). او په ۱۹۸٦ کال (سي ای اې) افغانانو ته د شوروي الوتکو راغورځولو لپاره "ستېنګر" توغندي واستول، چې هغه وخت د الوتکو ضد تر ټولو نوي توغندي ګڼل کېدل. په همدې کال په انګولا کې د واکمن نظام ضد تنظیمونو ته هم ستېنګر توغندي ولېږل شول ـ (واشنګټن پوست ـ ۳۰/۳/۱۹۸٦).

په دې سره، د امریکا استخباراتو د ټولو امریکايي چارواکو په واکمنیو کې د خپلو مشرانو او مرستیالانو په مټ په سمبالښت او تنفیذ کې ځان ښکېل کړی و، د جورج ډبلیو بوش (زوی) په واکمنۍ کې له ویلیم کایسي پیل تر جورج ټینیټ پورې. په دې چوکاټ کې کایسي په کانګرس کې لنډې لارې ته اړتیا لرله. ایا داسې لاره شته چې د عامه راغونډېدنو،کنفرانسونو او بحثونو او افشاګریو پر فضا واکمنه وي؟ ده نوي اندونه غوښتل. ایا پر کانګرس د لاسبرۍ کومه لاره شته؟ او یا دا چې د کانګرس ځانګړي سیستمونه تر اغېز لاندې راشي؟

له تېرو کابو پنځوسو کلونو راهیسې کایسي پوهېده چې د قوانینو تطبیقېدل او تفسیر یې په خیالي بڼه ترسره کېږي. ۱۹۳۷ کال و چې ۲۴ کلن کایسي د حقوقو له ښوونځي فارغ شو. دنده یې ومونده، هغه هم په داسې اقتصادي مخ پر ځوړ حالت کې د دندې پیدا کول یو ډېر ګران کار ګڼل کېده، خو دده

دنده په نیویارک کې د ''امریکا د مالیو د څېړنې مؤسسه'' کې وه، چې د اونۍ یې ۲۵ ډالر تنخا ورکوله. ده باید نوي قوانین او پرېکړې لوستلې وای، رپوټونه یې تنظیمولای، تشریح کولای او لنډیز یې وړاندې کولای.

خو امریکایي سوداګر، چې د امریکایي صنعت مشران دي، په دغو قوانینو ډېر نه پوهېدل او نه یې هرکلی کاوه. ده به خپل لنډیزونه او رپوټونه په یوه ډېره ابتدایي اله لیکل. کایسي پوهېده چې تجاران تبصرې نه غواړي نه یې ستاینه او نه هم نیوکې خوښېږي، بلکې غوښتل یې پوی شي چې د لازم الاجرا قوانینو د تطابق او توافق لپاره دوی څه کوي. کایسي په دې برخه کې ډېر ماهر و.

کایسي اعلان وکړ چې یو خیالي څیز غواړي: ''د قانون مخالفت نه غواړم'' ددې پرځای ده غوښتل له قانون چارچاپېره راوګرځي. مازې داسې یو سنجش یې غوښت چې ځان او سازمان پرې وساتي او د کونترا لپاره نورې پیسې ترلاسه کړي. په تېرو اوو میاشتو کې کایسي د کانګرس مرۍاویتوب وڅاره، هغه هم د یوه غړي د لوبې په پایله کې، دا کانګرس ته یو پند و.

په دې حساس وخت کې سازمان کونترا ته ۲۴ میلیونه ډالر ترلاسه کړل، د افغان مقاومت د پټو مرستو د پروګرام لپاره یې کابو ۳۰ میلیونه نور ډالر وغوښتل، کله چې د کانګرس یوه غړي ـ چې په استخباراتي کمېټه کې غړی نه و ـ وړاندې شو او د افغانستان د پروګرام لپاره یې ۴۰ میلیون نور ډالر ترلاسه کړل، یعنې له خپلې غوښتنې ډېر ډالر، دغه غړی چارلز ویلسن و.

ویلسن د دنګې ونې ځیرک او فعال سړی و، دی د ټکساس ایالت دیموکرات و، چې د باز په شان خبرې یې کولې او ټاکنیزه سیمه یې د ټکساس د یاغي روح یوه بېلګه وه. ویلسن پاکستان ته درې سفرونه وکړل، ځکه چې د افغانستان پټ پروګرام د پیلېدو په حال کې و. د پاکستان له لارې افغانستان ته د

ځینو انقلابیانو په ملګرتیا ولاړ چې هغه مهال د شوروي په واک کې و، ده دا نتیجه ترلاسه کړه چې ۳۰ میلیونه ډالر کم دي. غوښتل یې لا نور روسان ووژل شي. په ویتنام کې ۵۸ زره امریکایان ووژل شول او موږ د روسانو پوروړي یو.

پاکستان ته ویلسن په وروستي سفر پوه شو چې د انقلابیانو ستونزه د شورویانو هغه چورلکې دي چې په هوا کې دوی مقابله نه شي ورسره کولی. ویلسن وړاندیز وکړ چې انقلابیانو ته دې د سویس جوړ چټک ګوزار کوونکي ''اورلیکون'' توپونه ورکړل شي، ده وویل چې دا د پاکستان د ولسمشر ضیاء الحق نظر دی. ویلسن دا خبره د کانګرس د ځینو غړو په غوږونو کې ورپیچکاري کړه. له دې یې صلیبي جګړه جوړه کړه چې توکي یې د کانګرس په سیستم کې وموندل. د مشرانو جرګې د استخباراتو جرګه ګۍ وه چې اجازه یې ورکوله، خو اجازه لومړی ګام ګڼل کېده.

کانګرس باید د خپلو نافذو جرګه ګیو په مټ د پیسو د ورکړې رسمي پرېکړه وکړي. په مشرانو جرګه کې د تخصیص یوه جرګګۍ هم وه چې ویلسن یې غړی و.

کله چې د دغې جرګه ګۍ غړي د دفاع وزارت د بودیجې د بحث لپاره سره جرګه شول، ویلسن وویل دی یوازې یو شی غواړي: د ازادۍ لپاره د افغان زړه ورو جنګیالیو انقلابیانو لپاره نورې پیسې. که څه هم د استخباراتو کمیسیون اجازه ورنه کړه بلکې د پیسو د تخصیصولو موافقه یې وغوښته، ویلسن وویل سیمې ته یې په یوه سفر کې یو ۱۱ کلن افغان هم ورسره بېولی چې ویل یې ټول روسان مه وژنئ، ځکه غواړم چې لوی شم یو روسی ووژنم. په دې توګه ویلسن خپل ملګري پخپلو جذابو خبرو او لحن سره پر ځان ورمات کړل.

### څومره غواړي؟

ویلسن وویل ۴۰ میلیون ډالر غواړي. دا چې جرګګۍ د امریکا د دفاع وزارت د ۲۸۰ میلیارد ډالري بودیجې په اړه بحث کاوه، ۴۰ میلیون ډالر ورته ډېر کم شی ښکارېدل. په دې معنا چې جرګګۍ د اوه سوه زره ډالرو پر لګولو بحث کوي او یو غړی یې د یوه ډالر اضافه کېدل غواړي. ویلسن وویل په نورو مسلو کې به د هغو غړو ملاتړ وکړي چې د ده د ۴۰ میلیون ډالرو غوښتنه یې تایید کړه. همدا وو چې ویلسن وګټله.

ناڅاپه کایسي د افغانستان د پروګرام لپاره ۴۰ میلیون نور ډالر ترلاسه کړل او دغه پیسې د امریکا د دفاع وزارت له بودیجې څخه اختصاص شوې وې. د امریکا د دفاع وزارت چارواکو د اداري د ننه توپان رامنځ ته کړ او په ټول وزارت کې داسې ګنګوسې خپرې شوې چې ګني د الوتکو ضد اورلیکون توپونه د چریکي جګړو لپاره نه دي.

ځکه زبرمه یې ډېره قیمتي تمامېږي او ډېرې زیاتې څارنې او پالنې ته اړتیا لري او د خیبر درې په شان په کنډ او کپره لاره هم نه شي لېږدېدلی.. خو ویلسن، چې د سمندري اکاډیمی فارغ و، د امریکا له دفاع وزارت سره یې ښې اړیکې لرلې، او وزارت یې هم خبرې اورېدې.

دغې اداري د خزانې د مشر ډېوېډ ستوکمن په مټ د استخباراتو جرګګۍ ته یو پټ لیک واستاوه او د ۴۰ میلیونه ډالرو د ورکولو د اجازې غوښتنه یې ترې وکړه. د ګولډواټر غوسه وپارېده او د جرګګۍ په تراو یې ددغه دوران ربښتینیولي له سره ووتله. که چېرې د استخباراتو جرګه ګۍ دا پټه معامله پخپل کنټرول کې رانه ولي، داسې چې خپله مخکینۍ موافقه یې له ګلښتونو سره مل نه کړي، نو په دې صورت کې یې موجودیت تر پوښتنې لاندې راځي.

### ناوړه او ښه جګړه

ویلسن خپل کمپاین ته دوام ورکړ او د مشرانو جرګې د استخباراتو جرګه ګۍ په دفتر کې یې خپل فعالیت وغځاوه او د خپلې ګټې لپاره یې د نیکاراګوا له لانجمنې عملیې ګټه واخیسته. دده ګټو هغو ملګرو هم لېوالتیا وښوده چې د نیکاراګوا د عملیې مخالفت یې کاوه، دوی داسې انګیرله چې ګټي د شوروي اتحاد د لمنې له پراخېدو سره تساهل ته غاړه نه ږدي. ویلسن ورته وویل د افغانستان پروژه یې د اثبات لپاره یوه بشپړه بېلګه ده. دیموکراتانو نیکاراګوا ناوړه جګړه ګڼله او د افغانستان جګړه یې ښه بلله.

د مرکزي استخباراتو مرستیال مشر مکماهون هغه راپور ولوست چې د ۴۰ میلیونه اضافي ډالرو او د اورلیکون توپونو ملاتړ یې کاوه. د عملیې د پیلېدو پرمهال د سازمان د عملیاتو مشر مکماهون (چې کایسي د افغانستان د عملیې پلار نومولی و)، تل د پټې عملیې په اړه شک درلود، خو د کانګرس له خوا د افغانستان د عملیې په تایید سره یې قناعت حاصل شو. اوس د مکماهون دریځ د دې پدیدې په بدلولو کې همکاري وکړه او د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د جرګه ګیو موافقې ته یې لاره هواره کړه.

ویلسن د مرکزي استخباراتو سازمان کې د عملیاتو د مدیریت چارواکو ته وویل، دوی ډېر شرمېدلي دي. پخپله دوی باید نورې پیسې غوښتې وای.

دا د کایسي لپاره یوه ناڅاپي بریا وه؛ ځکه ۴۰ میلیونه ډالر نه یوازې د افغانستان د پروګرام لپاره ملاتړ و، بلکې ددې څرګندوی هم و چې کانګرس شاید په پټو چارو کې د ادارې مخې ته ولاړ شي. سازمان له اورلیکون توپ سره اشنا نه و همدا وو چې یوه نمونه یې راوړه هغه یې وازمویله او بیا یې لس توپونه وپېرل. د افغانستان د جګړې په ډګر کې ددغو توپونو د کارونې لپاره څو میاشتو او یا شاید تر یوه کال ډېر وخت ته اړتیا وه.

کايسي حيران شو او دا پوښتنه ورسره پيدا شوه که چېرې دا کار د نيکاراګوا په حق کې روا وي او داسې ښکاري هرڅومره چې د افغانستان ملاتړ ډېرېږي، د نيکاراګوا ملاتړ کمېږي. د ويلسن په لار کې ريښتينې درس، چې دا سيستم يې په بشپړه توګه وخوځاوه: د عملياتو مدير، کايسي، اداره او د مشرانو جرګه او ولسي جرګه وه.



## د سپټمبر ۱۱ مه

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ له چاودنو وړاندې او بيا وروسته چې پر افغانستان د امريکا او لوېديځ پوځي يرغل وشو، ويليم بلوم خپل ''دوی هيله وژني: له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په نړۍ کې د سي ای اې مداخلې'' کتاب خپور کړ. په دې کتاب کې يو بشپړ څپرکی د افغانستان او له ۱۹۷۹ کال راهيسې افغانستان ته د شوروي ځواکونو له ننوتلو مخکې او د يرغل له پيل راهيسې په افغانستان کې د (سي ای اې) د مداخلې په اړه دی.

ويليم بلوم وايي، پر همدې خبرې په ۱۹۹۸ کال له فرانسوي ورځپاڼې ''نوفيل اوبزرواتور'' سره د ولسمشر جيمي کارټر د واکمنۍ پرمهال د ملي امنيت سلاکار زبيګنيو بريجنسکي Zbigniew Brzezinski هم ټينګار کړی: ''د امريکا متحدو ايالتونو په ۱۹۷۹ کال د افغان اسلامي بنسټپالو ملاتړ پيل کړ، خو له همدغو اسلامپالو څينو يې کابل کې د امريکا سفير تښتولی و او همدوی يې د چارواکو له خوا د ژغورنې عملياتو پرمهال د مړينې لامل شول''.

د امريکا ملاتړ د ايران له اسلامي انقلاب وروسته او په تهران کې د اسلامپالو له خوا د امريکا د سفارت د کارکوونکو له برمته کولو وروسته هم دوام وکړ. ګلبدين حکمتيار او د هغه اسلامپالي افغان ملګري د امريکا د ادارې په نظر د شوروي اتحاد پرضد تر ټولو ګټور او د ازادۍ لپاره جنګېدونکي وو.

د افغانستان کیسه له ۱۹۷۳ کال راهیسې پیل شوې، هغه مهال چې سردار محمد داود خان ـ د واکمنې شاهي کورنۍ غړی و ـ د افغانستان د شاه پرضد د افغانستان د ننه د مخکښ گوند (د خلق دیموکراتیک گوند) په مرسته او ملاتړ کودتا پیل کړه او د افغانستان سیاسي نظام له شاهي نه پر جمهوریت واوښت. خو د افغانستان د لومړي ولسمشر داود خان په رگونو کې د مخکیني شاهي بچي وینه وښورېده او د خپلې پنځه کلنې واکمنۍ په اوږدو کې یې ډېر څه وکړل.

د ۱۹۷۸ کال د اپریل میاشتې پر ۲۷ مه، د خلق دیموکراتیک گوند کودتا وکړه او د داود خان له خوا ددغه گوند د گڼو مشرانو او ملاتړو له نیول کېدا وروسته یې د داود خان حکومت ړنگ کړ. د پوځ مشرانو د گوند د گټو په خاطر په کودتا لاس پورې کړ. نوي نظام د کرنیزو اصلاحاتو راوستلو هڅې وکړې، غوښتل یې د نرخونو او گټو کنټرول پخپل لاس کې واخلي او عمومي سکتور پیاوړی شي، له دولت او سیاست نه دین جلا او بې سوادي له منځه ولاړه شي، ټولنو جوړولو او د ښځې ازادۍ ته قانوني بڼه ورکړل شي.

افغانستان چې له شوروي اتحاد سره یې نژدې زر کیلومتره اوږده پوله لرله، د مسکو د ځانگړې پاملرنې سیمه گڼل کېده، خو د خپل مدار د چورلېدو له تگلوري سره یې نه شوای یوځای کولی، لکه څرنگه چې د ختیځې اروپا هېوادونو د خپل ځان او د اروپا ضد برید ترمنځ یو سپر باله.

خو واشنگټن او د ایران شاه (د ایران له اسلامي انقلاب مخکې) له لسو کلونو راهیسې پر افغانستان د فشار راوړلو هڅه کوله او 'بدې' یې ورکولې، چې له خپلې خاورې د شوروي د نفوذ لمن ورټوله کړي. په اوبایمه لسیزه کې د محمد داود خان د واکمنۍ پرمهال د واشنگټن په امر د ایران شاه په دې هڅه کې

و چې داود خان قانع کړي او د شوروي له ملاتړه د ۲ میلیارد ډالرو په مقابل کې لاس واخلي او نظام بدل کړي او دا پیسې افغانستان ته د اقتصادي مرستو په بڼه ورکړي.

د ایران شاه داود خان دې ته هم هڅاوه چې د ایران، پاکستان او ترکیې له خوا جوړ شوي 'د سیمه ییزې همکارۍ او پرمختګ له سازمان' سره یوځای شي، چې افغانستان یې له یوځای کېدو څکه ډډه کړې وه، چې ګنې د مرکزي ایتلاف د تړون (سینټو) د همکارۍ په لړ کې ددې لپاره رامنځ ته شوی، چې واشنګټن یې په مټ پنځوسمه لسیزه کې د جوړېدو هڅه کوله او د مسکو پر وړاندې د (بغداد ایتلاف یې یوه برخه وه). په اویایمه لسیزه کې، د ایران د شاه د استخباراتي سازمان (د اطلاعاتو /استخباراتو) سازمان او د دولت امنیت ''ساواک'' فعالانو د افغانستان د ننه په پوځ او مشرتابه کې د شوروي پوځیانو د څارنې لپاره فعالیت کاوه.

په دې وخت کې په 'واشنګټن پوسټ' ورځپاڼه کې د سوېلي اسیا د چارو کارپوه سیلیګ هاریون د 'کرملین نه، شاه' تر سرلیک لاندې یوه مقاله خپره کړه، چې د داود خان د واکمنۍ پرضد د کودتا لپاره یې لاره هواره کړه، په مقاله کې لیکل شوي وو: ''په مناسب وخت او مناسب ډول د خلق دیموکراتیک ګوند کودتا رامنځ ته شوه، څکه د ایران شاه په تېرو دېرشو کلونو کې د شوروي اتحاد او لوېدیځ ترمنځ د واکمن حساسیت په انډول کې ګډوډي رامنځ ته کړه.

د تهران دغه برید د واشنګټن او شاه په اند د افغانستان د بې پرې دولت د بدلولو له هڅې پرته بل څه نه دي، که څه هم د دوی هڅې تر دې ډېرې لیرې هم وې. دا چې د شوروي اتحاد او کابل ترمنځ ډېر اوږد واټن دی مسکو یې د خوندیتوب د ضمانت لپاره لا ډېر څه کولی شي، څکه افغانستان یوځل بیا د لوېدیځ په لاس کې نه لوېږي''.

کله چې د ۱۹۷۹ کال په جنورۍ میاشت کې د ایران شاه له واکه لیرې شو، واشنګټن خپل یو مهم ملګری له لاسه ورکړ او په سیمه کې یې د شوروي اتحاد پرضد ستراتیژیک موقعیت هم له لاسه ووت، تر دې هاخوا په ایران کې د مسکو پرضد د امریکا د پوځي او الکترونیکي بنسټونو او د څار د اډو هڅې هم په سیند لاهو شوې. په دې سره په واشنګټن کې د سرې جګړې پلان جوړوونکو له لا ډېرو سپینو سترګو افغانستان ته کتل.

د ۱۹۷۸ کال د اپریل له کودتا وروسته، د نور محمد تره کي په مشرۍ حکومت په 'لادیني دولت' کې د اسلام راوستلو اعلان وکړ او دا چې په بهرنۍ تګلاره کې به بې پرې والی غوره کوي، خو ده ټینګار کاوه چې نظام یې کمونیستي نه دی، نه هم په افغانستان کې هېڅ کوم کمونیستي ګوند رامنځ ته شوی.

د امریکا ملي امنیت سلاکار او د افغانستان د چارو کارپوه او په افغانستان کې د کیڼ اړخو د واکمنۍ مخالف لویس دوپرې همدا ټکی 'نیویارک ټایمز' ورځپاڼې ته د ۱۹۷۸ کال د مې پر ۲۰ مه په یوه لیک کې کړې وه. په ۱۹۷۸ کال د افغانستان حکومت نوموړی یو ناغوښتل شوی شخصیت بللی و.

بریتانوی سیاستپوه فرید هالیډې وایي ''افغان حکومت هڅه کوله هېواد شلمې پېړۍ ته بوځي. د ۱۹۷۹ کال په مې میاشت کې مې ولیدل چې له دوو پېړیو راهیسې په هېواد کې د دولت نشتوالي له کبله هېواد بدل شوی دی'' (نیویارک ټایمز ۱۸/۵/۱۹۷۹). خو د امریکا متحدو ایالتونه په کابل کې د نوي وضعیت او خپ ځپانده حالت په اړه د ایران په شاه او پاکستان وویرېدل، خو پخپله وېره کې یې له مبالغې کار واخیست: کابل کې پخواني امریکایي سفیر وویل، واشنګټن یې ایران او په منځنۍ ختیځ کې د تېلو چاڼ ځایونو ته خطر ګڼي؟!

### د افغان نظام پروړاندې د امریکا مداخله

د ۱۹۷۸ کال د اپریل میاشتې له کودتا وروسته، یو سیاسي ایتلاف جوړ شو، چې ځینې تنظیمونه او محافظه کاره اسلامي ګوندونه پکې یوځای شول او د افغان حکومت پرضد یې چریکي جګړې او بریدونه پیل کړل. د ۱۹۷۹ کال په اپریل میاشت کې ددغه ایتلاف د جګړې لمن ډېرو برخو ته وغځېده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت شوروي ته خبرداری ورکړ چې هلته په کورنۍ جګړه کې هېڅ روسي سلاکاران پوځي مداخله ونه کړي.

خو دغه بربنډ ګواښ په ډاګه کوي چې مسکو هغه مهال پاکستان کې پر (سي ای اې) د مېشتو افغانانو په مسلح کولو تور پورې کړ، خو د کابل حکومت پاکستان او ایران د هغو اسلامپالو جګړه مارو ډلو او کومندانانو په مرستې تورنول، چې په وینا یې د خپلو پولو له لارې یې افغانستان ته ننباسي او د افغان حکومت پرضد جګړه کې ونډه ورسره اخلي.

عجیبه خو دا ده واشنګټن هغه اسلامپالي ترهګر او د دیموکراسۍ دښمنان ګڼل، چې شاه یې له واکه وغورځاوه، خو په کابل کې یې د نظام د ړنګولو لپاره د افغان اسلامپالو ملا تړله؟!.

د ۱۹۷۹ کال د اپریل پر ۱۳مه، 'نیویارک ټایمز' ورځپاڼې ولیکل: ''د دین له مسلې ځینو هغو افغانانو پخپله خوښه ګټه واخیسته، چې د نور محمد تره کي پروژو او د کرنیز اصلاح پلان ته یې اېښې ده، دوی د پانګوالۍ نظام کې بدلونونه غواړي، په تېره بیا ډېری مذهبي کسان د ډېرو ځمکو څښتنان دي''.

## د ایران او پاکستان رول

د افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه (ایران او پاکستان) د امریکا ملګري وو. ایران د شاه د واکمنۍ تر ړنګېدا پورې د امریکا حامي و او پاکستان یې سوېل ته د افغانستان د حکومت د پراخېدونکو هڅو په اړه اندېښمن و او 'افغان مجاهدینو هغه مهال د نوي پر ښنو ولاړ جمهوري نظام پرضد جګړه کې یو کاناډايي سیلاني او شپږ جرمنیان ووژل او د امریکا د سفارت مرستیال یې له دې کبله وواژه، چې دوی [مجاهدینو] د امریکایانو او روسانو ترمنځ د توپیر کولو توان نه درلود.

د ۱۹۷۸ کال په مارچ میاشت کې تره کی مسکو ته ددې لپاره ولاړ چې پر روسانو د افغان پوځ د همکارۍ ډېرېدو په پلمه د ځمکنیو ځواکونو د استولو او د مجاهدینو د ځپلو فشار راوړي. خو شورویانو ژمنه ورسره وکړه چې د ځمکنیو ځواکونو له استولو پرته به پوځي مرسته کې غاړه ورسره یوسي.

د هغه مهال لومړي وزیر کوسیجین وویل: ''افغانستان ته زموږ د ځواکونو استول د نړیوالې ټولنې غوسه راپاروي او په بېلابېلو برخو کې به منفي پایلې ولري. زموږ ګډ دښمن ددې شېبې په انتظار کې دی. کله چې په افغانستان کې د شوروي ځواکونه راڅرګند شي نو دوی ته به دا دلیل پیدا شي چې دغه هېواد ته وسله والې ډلې واستوي''. په سپتمبر میاشت کې د تره کي په ګوند کې درز پیدا شو، همدا دده د لیرې کېدو لامل شو او پرځای یې حفیظ الله امین راغی.

امین د تره کي په پرتله په اصلاحاتو او اجراتو کې لا ډېر سختګیر سړی و او ان په کورواکه توکمیز امر کې هم ژمن ښکارېده. خو کرملین پر امین ډاډه نه و او نه یې د هغه په چینه د اوبو څښلو ته زړه کېده. په کابل کې د روسیې د څارګرې ادارې 'کې جي بي' ماموریت پر مسکو د امین د لیرې کېدو لپاره فشار راوړ؛ ځکه چې هغه واک یرغمل کړی و چې دا کار یې د مخالفو قوتونو له لوري له دوه برابره غبرګون سره مخامخېدای شوای.

پردې سربېره، مسکو هم د امين د فکر او اندونو په اړه پښه نيولی و. د تره کي له غوښتنې نهه مياشتې تېرې شوې ـ خو مسکو يې غوښتنه ونه منله ـ روسي پوځيان په ۱۹۷۹/۱۲/۸ نېټه د امين په غوښتنې او ملاتړ افغانستان ته ننوتل. په ۱۹۷۹/۱۲/۲۷ په کابل کې قصر ته ننوتل او امين يې وواژه، پرځای يې ببرک کارمل راوست، چې هغه مهال (د ۱۸۷۹ کال په حکومت کې) د امين مرستيال او مرستيال لومړی وزير و.

لکه څرنګه چې بريجنيف وويل، که څه هم مسکو د امين په وژلو غمشريکي ونه ښوده خو د هغه په وژلو کې يې د مسکو لاس لرل رد کړل: ''د افغانستان پرضد هر ډول دښمنانه اعمالو ته د امين له خوا لاره هواره شوه، هغه افغان ټولنه وځپله، د پوځ او ګوند کدرونه او لوستي کسان يې وربېرول، مذهبي کسان يې وټکول، دا ټول د اپريل د کودتا مخالف اعمال دي. ولس د کارمل په مشری د امين پرضد راپورته شو. زموږ هېر نه دي چې همدغه امين تره کی ليرې کړ او ويې واژه''.

د امين له ليرې کېدو وروسته عام افغانان واټونو ته راووتل او له امين نه يې د ځان خلاصون په پلمه خوشحالی وکړې، دا ښيي چې کارمل د روسيانو له همکاری پرته په يوازې سر د هغه د ليرې کولو توان درلود، همدا خبره لوېديځو ديپلوماتانو هم کړې، خو د حيرانتيا خبره دا ده چې د شوروي رسنی امين د (سي ای اې) جاسوس او لاسپوڅي بولي. دوی وايي چې امين پنځوسمه او شپېتمه لسيزه کې د ويسکانسون کولمبيا پوهنتون په انستيتيوت کې زده کړې کړې دي او هلته سي ای اې هغه وګوماره چې افغانستان ته له ستنېدا وروسته به ددغه سازمان په ګټه کار کوي.

په دې وخت کې د افغان محصلينو د ټولنې مشر ضياء نورزی د يوې امريکايي ټولنې له لارې د سي ای اې جاسوس و، بيا په ۱۹۶۳ کال امين د دغې ټولنې مشر شو. کله چې د ۱۹۷۹ کال سپتمبر کې امين واک ته ورسېد، امريکايي سفير په يوه دوستانه کتنه کې ورته وويل، تر هغو چې په افغانستان کې د امريکا قوي حضور وي، د ده [امين] له شوروي ملګرو اندېښنه پکار نه ده.

په حقیقت کې، حفیظ الله امین له واشنګټن سره په افغانستان کې د سفیر بروس امسټوټس له لارې د اړیکو د ښه کولو په موخه خبرې کولې او اړیکي يې ورسره پالل، په عین وخت کې شورویان پوهېدل چې واشنګټن په افغانستان کې د مداخلې او په منځني ختیځ کې د امریکایي اډو د جوړولو او د امریکا د مرکزي استخباراتو (سي ای اې) د فعالیتونو له لارې د ایران د خسارې ورکولو په هڅه کې دی.

خو 'وال سټریټ ژورنال' ورځپاڼې هغه مهال ویلي وو، چې ''د افغان یاغیانو د مرستې لپاره پټ کار ته اړتیا ده ''و ویلیم بلوم وایي 'واشنګټن پوسټ' ورځپاڼې د ۱۹۸۰ کال فبرورۍ کې افغان اسلامپالو ته له امریکایي پوځي مرستو پرده نه وه پورته کړې.

د امریکایي استخباراتو افسران د ۱۹۷۹ کال له اپرېل میاشتې وړاندې (یعنې افغانستان ته د شوروي ځواکونو له ننوتلو مخکې) له افغان اسلامپالو یاغي کومندانانو سره جرګه کېدل چې معلومات ترې لاس ته کړي او (سي اي اې) يې د پاکستان په خاوره کې جنګیالیو ته د وسلو چلولو او د چریکي جګړې مخته بېول ورښودل او دوی ته يې له ۱۹۷۸ کال راهیسې یوه ځانګړې رادیو هم جوړه کړې وه، چې پر مټ يې خپل تبلیغات خپاره کړي.

د کورنۍ جګړې له پیلېدا وړاندې ـ چې د امریکا، پاکستان او چین په هڅو په افغانستان کې پیل شوه ـ د شوروي اتحاد له پوځي مشرانو سره سخته اندېښنه پیدا شوه، په تېره بیا افغانستان چې د شوروي اتحاد په ګاونډ کې پروت هېواد دی.

له دې کبله د شورویانو پوځي مداخله د مسکو له خوا هغه لومړی پوځي گام و چې له دویمې نړیوالې جگړې وروسته یې له خپلو پولو بهر د ختیځې اروپا له هېوادونو سره اخیستی و. ځکه مسکو دا کار پر خپله پوله د کمونیزم ضد یوه اسلامي نظام د رامنځ ته کېدو احتمال باله، په تېره بیا د شوروي اتحاد تر واک لاندې د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو پر پوله (۴۰ میلیونه مسلمانان) داسې یو خطر دی، لکه امریکا ته چې د مکسیکو نظام پر یوه دښمن واوړي.

که څېرې لیونید بریجنیف پر دې اند و چې د افغانستان مسله او موقعیت د امریکا د ملي امنیت لپاره هېڅ ډول خطر نه پېښوي، نو هغه مهال د امریکا د ملي امنیت سلاکار بریجنسکي خو اعلان وکړ چې په کابل کې د مسکو پوځي حضور یې عربي خلیج ته ورنژدې کوي.

په دې اساس، زبیگنیو بریجنسکي د افغانستان د جگړې په ډنډکې له پوځي اړخه د شوروي اتحاد د ښکېلتیا لپاره له امریکایي ادارې سره کار وکړ. ددې لپاره چې په مقابل لوري کې افغانستان د ''شوروي ویتنام'' وگرځي.

د امریکا متحده ایالتونه په ''امریکایي ویتنام'' کې د شوروي په ملاتړ د خپلې ماتې غچ واخلي. دا ډول افغانستان د شورویانو لپاره د ''ویتنام جال'' و، چې امریکایانو په ډېر مهارت دغه جال غوړولی و. د شورویانو لپاره گرانه وه چې په اسانۍ سره په جال کې له بندېدو وروسته ځان وژغورلی شي.

په دې توگه، د شوروي اتحاد پرضد د افغانانو له خوا په افغانستان کې ۱۲ کلنې ناغوښتل شوې جگړې ته واشنگټن پوره چمتووالی ونیو. په دې وخت کې د کابل حکومت هېواد یوې لادیني اصلاحي واکمنۍ ته چمتو کاوه. خو ـ لکه څرنگه چې مخکې وویل شول ـ د امریکا متحدو ایالتونو هڅه دا وه چې دا ځل افغانستان د شورویانو لپاره پر ویتنام بدل کړي او د روسانو هومره وینې پکې تویې شي لکه په ویتنام کې چې د امریکایانو وبهېدې.

واشنګټن ته دا ډېره مهمه نه وه چې افغانستان کې به پر یوه سخت دریځي بنسټپاله اسلامي دولت واوړي. کټ مټ لکه څرنګه یې چې د شاه له پرځېدو وروسته له اسلامي ایران سره دا ډول دښمني لرله، خو امریکا ته دا مهمه وه چې د اسلامي بنسټپالنې څپې دې په منځنۍ اسیا کې د شوروي اتحاد تر جمهوریتونو پورې ورسولې شي او د مسکو پرضد د سیمې وضعیت سرچپه شي.

امریکایانو هغو یاغي اسلامپالو ته د ''ترهګرو'' د خطاب کولو جرات هم نه درلود چې په افغانستان کې یې ملکي الوتکې پخپلو توپونو راغورځولې او په هوایي ډګر یې چاودېدونکي توکي ځای پرځای کول.

په ۱۹۸٦ کال، د بریتانیا د حکومت مشره مارګرېټ تاچر، ـ چې ځان یې د ''ترهګرۍ'' ضد جګړې مخکښه ګڼله ـ د افغان یاغیانو د یوه مشر عبدالحق ملاقات ته زړه نازړه نه وه، عبدالحق په ډاګه ویل چې په ۱۹۸۴ کال یې د کابل پر هوایي ډګر چاودېدونکي توکي وکرل، چې د ۲۸ ولسي وګړو د وژل کېدو لامل شول.

په دې سره په شلمه پېړۍ کې واشنګټن په سړه جګړه کې د شوروي اتحاد پروړاندې خپله جګړه مخته بېوله. تر هغه بریده چې اناستاسیو سوموزا د واشنګټن ملګری و، هومره نن یاغي اسلامپالي افغانان د ''امریکا متحدو ایالتونو متعصب ترهګر وو''!!!.

خو دا چې د شوروي پرضد له افغانانو نه د جګړې د اور د لرګیو په څېر کار اخیستل کېده، د سي ای اې مشر سټانفیلډټیرنر یې هغه مهال په اړه وویل: ''د دې لپاره چې د شورویانو وضعیت ګډوډ کړو، زموږ د جیو ـ ستراتیژیکو ګټو لپاره د نورو خلکو په ژوند لوبې کول روا دي''.

## د پاکستاني شتمنو جيبونه

پنټاګون (د امريکا د دفاع وزارت) او سي ای اې پرته له دې چې د سلګونو زرو افغانانو وژل کېدو او د افغان ټولنې ړنګېدو ته پام وکړي، سم لاسي يې د مسکو پرضد خپله جګړه پيل کړه. امريکا ته هغه ميلياردونه ډالر هم مهم نه وو چې د ماليو له لارې يې په افغانستان کې د جګړې لپاره ورکول (که څه هم ډېری تمويل يې امريکايي نه و).

ددغو پيسو ډېری برخه د ګوتو په شمېر د ځينو افغانانو او د پاکستاني شمتنو جيبونو ته لوېده، له ټکساسه د کانګرس غړي چارلز ويسلن وويل: ''په ويتنام کې يې زموږ ۵۸ زره امريکايان ووژل او روسان زموږ پوروړي دي، اوس بايد پر دوی هغه کاڼې وشي چې پر موږ يې کړې دي''. روسانو هم د سپتمبر د ۱۱ له پېښو وروسته په افغاني ډنډ کې د امريکايانو د ښکېلېدو لپاره همدا سوچ کاوه، دوی هم په هغې چينې اوبه وڅښې چې مخکې يې پرې څښلې وې...

## د منځني ختيځ پيسې او خيراتونه

سي ای اې په افغانستان کې د شورويانو پرضد د خپلو چارو د لوی همغږي کوونکي له رول نه برخمن و. سي ای اې د شوروي جوړې وسلې له مصر، چين، پولنډ، اسرائيلو او نورو ځايونو رانيولې او چمتو کولې. که به چېرې دا وسلې چمتو نه وې، نو سم لاسي يې امريکايي وسلې ورته وړاندې کولې.

(سي ای اې) په ترتيب سره د امريکايي، مصري او چينايي افسرانو په لاس اسلام پالو ته پوځي روزنه ورکوله او افغان اسلامپالو ته به يې د پيسو راغونډولو او خيرات لپاره د منځني ختيځ د هېوادونو، په تېره بيا د سعودي عربستان دروازې ټکولې. سعودي هر کال سلګونه ميليونونه ډالر ورکول، او ان ځينې وخت

يې په کال کې تر يو ميليارد ډېر ډالر ورکول او سي ای اې پر پاکستان فشار راوړه او بډې يې ورکولې چې د شوروي پرضد عملياتو لپاره چمتووالي او پوځي روزنې ته پخپله خاوره کې کرايې ځای ورکولو لپاره غاړه کېږدي.

دې کار ان تر دې پورې دوام وکړ چې پاکستانيانو د افغان اسلامپالو د پوځي عملياتو لپاره پلانونه ورته جوړول. پاکستانی جنرال ميا محمد افضل، چې هره مياشت يې له سي ای اې نه تنخا اخيسته، د پاکستاني ـ امريکايي همکارۍ هغه لوړپوړی افسر و چې له اسلامپالو ياغيانو سره يې همکاري کوله. (له ''د سفارت لاسوندونه'' د سي ای اې پټ معلومات ـ راپور څخه / ۱۹۷۹/۱۰/۳۰. ۳۰ ټوک.

ددې هدف لپاره واشنگټن له پاکستان سره په جگړه کې د ګډون کولو تر ورځې پورې خپلو پوځي او اقتصادي همکاريو ته دوام ورکړ، خو دا يې درک کوله چې پر افغانستان د شورويانو له پوځي يرغل دوه مياشتې وړاندې پاکستانيانو په اسلام اباد کې د امريکا سفارت ولوټه او اور يې ورته کړه او په دوو لويو ښارونو کې يې کلتوري مرکزونه چور کړل.

خو د پاکستان خپلواکو رسنيو ته د واشنگټن د کړنو خطر معلومېده. د پاکستان ''مسلم'' ورځپاڼې وويل، 'امريکا ''تر وروستي ژوندي افغان پورې د جګړې غځېدل غواړي، او پاکستان د يوه مخامخ دولت په توګه خوښ نه ښکاري''. په ۱۹۸۸/۱۰/۱۷ نېټه ''لاس انجليس ټايمز'' ورځپاڼې وويل، په افغانستان کې د اسلامپالو ترځنګ لسګونه تور پوستي مسلمان امريکايان جنګېدل چې د شوروي ضد جګړه کې وژل شوي، خو له جګړې روغ رمټ وتلي بېرته امريکا ته ستانه شوي.



د امریکا رسنیز ماشین او امریکایي چاراوکو به د نړۍ تر غوږونو خپلې دا څرګندونې رسولې: ''پر افغانستان د شورویانو یرغل، د شورویانو برید، د شورویانو له خوا د یوه بې ګناه هېواد لاندې کول د نړۍ یا منځني ختیځ د نیولو لپاره پیلامه ده''.

عامو خلکو د افغانستان په اړه پوره پوهاوی نه درلود، او دا چې له شپېتو کلونو راهیسې خپلواک هېواد و، د شوروي اتحاد د یوه نژدې ګاونډي په توګه یې په سوله کې ژوند کاوه. بریجنسکي پخپله د شوروي پرضد ټینګه دښمني کوله، ده پخپلو یادښتونو کې دا هم لیکلي وو چې افغانستان په دویمه نړیواله جګړه کې تل بې پرې پاتې شوی، چې هغه وخت شورویانو کومه تمه نه ورته لرله.

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ۱۱ له پېښو راهیسې، د امریکا متحدو ایالتونو او بنسټپالو اسلامپالو ترمنځ ګڼ ډیپلوماتیک ثوابت بدل شول، چې وروستی یې د ۲۰۰۲ کال د جون میاشتې لومړیو کې د ناټو او روسیې ترمنځ نژدېوالی و. په دې اساس، ذهنونو کې دا پوښتنه راپورته کېږي چې: ایا د امریکا او بنسټپالو اسلامپالو ترمنځ د شخړې ریښتینی شالید څه دی؟. او ولې ددواړو غاړو ترمنځ په دغو اړیکو کې دا هرڅه پېښ شول؟.

هغه کتاب چې د منځني ختیځ په چارو کې کارپوه امریکایي خبریال جان کولي د ''نامقدسې جګړې: افغانستان، امریکا، او نړیواله ترهګري'' په نامه چاپ کړی، په دې برخه کې مهمه مرجع ګڼل کېږي. دا کتاب د ۱۹۹۹ سپټمبر میاشت کې چاپ شو، په ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ کلونو کې بیا چاپ شو، او ایټالیایي او فرانسوي ژبو ته هم وژباړل شو.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې له بریدونو وروسته، جان کولي د کتاب ځینې برخې ناسمې وګڼلې او په ۲۰۰۲ کال پاریس کې د فرانسوي بڼې د خپرېدو لپاره یې نوې مقدمه ولیکله: ''سي ای اې او جهاد: ۱۹۵۰ ـ ۲۰۰۱''. په دې سره د کتاب وروستۍ بڼه له پخوانیو هغو بشپړه ښکارېده.

د جان کولي د کتاب اهمیت په دې کې دی چې د نیمې پېړۍ په اوږدو کې یې د امریکایي ادارې او په نړۍ کې د بنسټپالو اسلامي خوځښتونو ترمنځ له پخوانیو ایتلافونو پرده پورته کړې ده. دی داسې دلایل، مراجع او جزییات وړاندې کوي، چې ددغه ډول ایتلاف او ملګرتیا د موجودیت په اړه د شک هېڅ ځای نه پیدا کېږي.

دا چې هغه یو ځیرک خبریال دی او د منځني ختیځ او اسلامي نړۍ په چارو کې اوږده تجربه لري، د الجزایر جګړه (۱۹۵۶ ـ ۱۸۶۲)، او د عربانو او اسرائیلو جګړه (۱۹۶۷) او په یمن کې جګړه (۱۹۶۷ ـ ۱۹۶۹)، او د اردن پېښې (۱۹۷۰)، د هند او پاکستان ترمنځ جګړه (۱۹۷۱)، د لبنان لاندې کول (۱۹۸۲)، د عراق او ایران ترمنځ جګړه او همدارنګه د قبرص لاندې کولو (۱۹۷۴)... په اړه یې هم لیکنې کړې دي.

په دې کتاب کې جان کولي په نیمه پېړۍ کې د امریکا او بنسټپالنې ترمنځ پر ایتلاف تم شوی، دا دلیل راوړي چې امریکا په څو لسیزو کې په دې موخه بنسټپالي اسلامپالي څرنګه په غېږ کې ونیول او مرستې یې ورسره وکړې، چې د خپلو سیاسي ګټو د دفاع لپاره یې وکاروي. په تېره بیا د سړې جګړې پرمهال له شوروي اتحاد سره د ستراتیژیکې خړې فضا په چوکاټ کې.

دی دا هم وایي چې د امریکا او بنسټپالنې ترمنځ اړیکې د لارې د سر هوکړه نه وه، بلکې د سپینې ماڼۍ د ننه یې مدیریت ترسره کېده او د امریکا ټول بنسټونه پکې ښکېل وو، پر دې سربېره، د بېلابېلو نژادونو شرکتونه، استخبارات، د ونډو بازارونه، د وسلو او نشه یي توکو قاچاق وړونکي او سوداګر هم پکې ښکېل وو...

همداشان، د جان کولي کتاب نه یوازې په ښکاره په بنسټپالو حرکتونو کې د امریکا د استخباراتو  له خوا پیاوړی کوونکی رول په ډاګه کوي، بلکې وایي د فرانسې، بریتانیا، مصر، ایران، اسرائیلو او ... استخباراتو ونډه یې هم بربنډه کړې ده!! دی دا ډاګیزه کوي چې واشنګټن څرنګه ځان ته نژدې تنظیمونه د خپل هدف لپاره وکارول، یعنې له بنسټپالو حرکتونو یې استفاده وکړه، په تېره بیا د مصر، پاکستان، مراکش، سعودي عربستان او اردن په نظامونو کې یې ځومره کار وکړ.

په فرانسوي ژبه د جان کولي د ژباړل شوي کتاب په مقدمه کې فلسطینی - امریکایی مفکر اډوارډ سعید وایي: ''دا کتاب په دقت، ژورې څېړنې او شننې کې یوه بېلګه ده''... سعید زیاتوي: ''موږ نن د ترهګرۍ په اړه په نړیواله کچه د نیمه لېونتوب شاهدان و. خو دا پدیده په کافي اندازه نه ده څېړل شوې، او په تېنګه هم نه ده تحلیل شوې، ځکه چې په افغانستان کې د طالبانو پرضد د امریکایي جګړې رسنیزو تبلیغاتو پرې سیوری غوړلی دی... او په دې اړه د جان کولي له کتاب پرته بل غوره، دقیق او ژوندی کتاب نه شته...

دا هغه یوازېنی کتاب دی چې د لیکوال له خوا د اسلامي بنسټپالنې دفاع د ناوړه، فاسدو او ظالمو نظامونو له خوا د بې وزله محکومو ټولنو په چوکاټ کې راوستل شوې ده. همدارنګه، د امریکا په څېر د لویو قوتونو له خوا، یوه ورځ له اسلامي فعالانو د لوبې د وسائلو په توګه کار اخیستل کېده، بله ورځ یې پرېښودل او له دې مخکې چې ددوی پرضد شي، هېرول یې او پرضد یې جګړه پیلوله''.

اډوارډ سعید خپله مقدمه په دې ټکو پای ته رسوي: ''دې ته ورته هېڅ بل کتاب نه شته. موږ ډېر نېکبخته یو چې دا کتاب مو په لاس کې دی''.

خو ستر عرب ليکوال محمد حسنين هيکل پخپل ''له نيويارکه تر کابله'' کتاب کې ويلي: ''هغه په دې موضوع کې پر درو سرچينو تکيه کړې ده، چې د دې مسلې اصلي جوهر جوړوي:

لومړی: ''طالبان: د اسيا منځ کې اسلام، تېل او لويه شخړه'' کتاب، چې د پاکستاني خبريالانو د ټولنې مشر احمد رشيد ليکلی، دا کتاب په لومړي ځل په ۲۰۰۰ کال لندن کې راڅرګند او چاپ شو، بيا په ۲۰۰۱ کال درې ځلې چاپ شو (دغه کتاب د ۲۰۰۱ کال سپتمبر مياشتې په وروستيو کې پر يوه مهال د امريکا د ولسمشر جورج بوش او د بريتانيا د لومړي وزير ټوني بلېر لاس ته ورسېد).

دويم: ''نامقدسې جګړې: افغانستان، امريکا او نړيواله ترهګري'' کتاب، چې ليکوال يې امريکايی خبريال جان کولي دی...

درېيم: ''د واقعيت مينځل او د د دغه سرليک دويمه کرښه: ''د امريکا استخباراتي سازمان، نشه يي توکي او خبريالي''. د کتاب په ليکلو کې د ژور تحقيق دوو کسانو الکسندر کوکبيرن او جيفري سان کليېر ګډون کړی. دا کتاب په ۱۹۹۸ کال لندن کې چاپ شو.

محمد حسنين هيکل زياتوي، دغه درې کتابونه، پر مهمو حقايقو ويلو کې سره يوشان دي، د شوروي اتحاد پرضد يې په سړې جګړې کې د امريکا له اداري سره اړيکي نيولي (دا جګړه د تېرې پېړۍ پنځوسمې لسيزې په لومړيو کې پيل شوه، چې ستراتيژي يې د مرمۍ له ويشتلو وړاندې د افکارو خپرول او د خطرناک کمونيستي دښمن پروړاندې د عقيدو او دينونو له کارولو وړاندې برمته کول وو). دغه ټولګه پخپلو اړوندو او بشپړوونکو سرچينو کې لاندې مهم حقيقتونه په ډاګه کوي:

**د سي ای اې او ای اېس ای همکاري**

۱ ) د امریکا مرکزي استخبارات د پاکستان له پوځي استخباراتو سره همکار وو، چې هدف یې د شوروي اتحاد تر قلمرو لاندې په سوېلي جمهوریتونو کې د شوروي ضد احساساتو راپارول وو. هلته ډېری اسلامپالو د شوروي ''مادي'' نظام د فلسفې د یرغمل لاندې او په اصولو کې د ''روحاني'' اسلام ترمنځ ژوند کاوه. طبیعي ده د امریکا د استخباراتو انګیزه ''د دعوت کولو پر حرص او یا د ایمان په ریښتینولۍ'' ورټوله نه وه، بلکې ''اندېښمنول او تنګول'' د شوروي اتحاد په ډېری ځایونو کې د درد راپورته کولو انګیزه رامنځ ته کوله.

۲) له افغانستان نه د شوروي اتحاد د تنګولو او اندېښمنولو لپاره د ګټې اخیستو چاره د پنځوسمې لسیزې لومړیو کې پیل شوه. په شپېتمه لسیزه کې ډېره شوه، او په اویایمه لسیزه کې اوج ته ورسېده، خو د امریکا د ملي امنیت شورا هدف ـ چې په سر کې یې زبیګنیو بریجنسکي و ـ د شوروي اتحاد سپکول و، داسې چې په افغانستان کې یې پرضد مزاحمت او مقاومت ډېر شي، او که یې ـ زړه هم نه وي ـ پر افغانستان پوځي یرغل وکړي، کله چې دا کار وشو، نو پر ''شوروي ویتنام'' ددغه هېواد د اوښتو لپاره ښه فرصت رامنځ ته شو، هومره لکه ''امریکایي ویتنام'' چې پر خپلو ملګرو اغېز وکړ.

۳) د بریجنسکي اټکل دا و چې ـ لکه څرنګه یې چې ولسمشر جیمي کارټر ته وړاندیز کړی و ـ چې د امریکا متحدو ایالتونو ته نه ښایي چې په ښکاره په افغانستان کې ځان څرګند کړي (کله چې د شوروي ویتنام ترې جوړ شي)، بلکې غوره دا ده چې په کافي اندازه واټن کې لیرې ترې پاتې شي، او جګړه مسلمانانو ته پرېږدي چې د ''مادي لادینۍ'' پرضد یې د ''اسلامي جهاد'' په نامه مخته بوځي.

تر دې مهمه دا چې تمویل یې پر غاړه واخلي، ځکه چې د مرکزي استخباراتو سازمان یې دروند پېتی په بودیجه کې پرغاړه اخیستی شي، او په پټ باور کې کانګرس پرې د موافقې لپاره زړه نه ښه کوي، خو که چېرې د بهرنیو چارو تر جرګه ګۍ ''امنیتي جرګه ګۍ'' پورې دا خبره ورسېږي، نو هرڅه به برملا شي او دا کار د امریکا د بهرنۍ تګلارې لپاره یو سرخوږی دی، او په دې حالت کې سرخوږی خطرناک هم دی، ځکه چې د نړیوالې پېچلتیا حالت رامنځ ته کوي چې ډېره کول ترې غوره دي.

په دې ډول بریجنسکي په دې اند دی چې دغه عملیه د امریکا لپاره تر یوه حده ضروري او حیاتي ده، هغه د خپلو وړاندیزونو او سپارښتنو په لړ کې دا هڅه وکړه چې په ډګر کې لوبه په مهارت او ځیرکتیا سره ـ د امریکا په فعالې او اغېزناکې څارنې ـ د ښېکلتیا د ثبوت له هېڅ دلیل موندلو پرته مخته بوتلل شي او د ''جهاد په وسلې'' او ''اسلامي اژانس'' په مټ په افغانستان کې د شوروي اتحاد پښې ماتې شي، او د امریکا پر متحدو ایالتونو د شک او لاس پاکولو هېڅ داسې دلیل پیدا نه شي، چې پایلې یې ناوړه وي، چې همداسې وشول.

نو له دې وضعیت سره چارې څرنګه مخته ولاړې؟
او په افغانستان کې شورویانو کوم ګامونه واخیستل؟
د امریکا متحدو ایالتونو غبرګون څه و، په تېره بیا د ولسمشر جیمي کارتر او د هغه د ملي امنیت د سلاکار بریجنسکي؟

د منځني ختیځ په چارو کې کارپوه امریکایي خبریال جان کولي وایي ''د ۱۹۷۸ کال د اپرېل میاشتې پر ۲۷ مه، په کابل کې کودتا وشوه چې په لړ کې یې محمد داود خان (چې په ۱۹۷۳ کال یې د پوځي کودتا پایله کې پاچا محمد ظاهر شاه له واکه لیرې کړ ) ووژل شو. د واک ګدۍ مارکسي رنګ واخیست او نور محمد تره کی د هېواد مشر شو، خو په دې نوي نظام کې دغه قوي سړی په اصل کې حفیظ الله امین و.

په دې تړاو، د امریکا مرکزي استخباراتو (سي ای اې) او نورو لوېدیځو سازمانونو نوې مشرتابه کمونیستي واکمن او شوروي اتحاد ته نژدې کسان وبلل. پر همدې وخت کې، د مسکو اندېښنه هم ډېره شوه، ځکه چې کرملین حفیظ الله امین امریکایانو ته مایل سړی گاڼه او یا دا چې ودې شي د سي ای اې جاسوس وي.

د ۱۹۷۹ کال په مارچ میاشت کې، په هرات ولایت کې د نظام پروړاندې پاڅون وشو او ددغه پاڅون د اور گولولو لپاره هلته استول شوي شوروي سلاکاران ووژل شول. د شوروي استخباراتو درک کړه چې د پاڅون ترشا د بهرنیو کړیو ملاتړ دی (چې جان کولي پکې ایران مشخص کړ).

دې پېښو د مسکو اندېښنه ډېره کړه، په تېره بیا حفیظ الله امین په کابل کې د حکومت مشر وټاکل شو او کرملین له نژدې نه د امین څارنه پیل کړه. ددې موخې لپاره یې پلازمېنه کابل کې یو تجربه لرونکی دیپلومات واسیلي سافرو نځچوک وگوماره، چې په دې سره د حفیظ الله امین په اړه د شورویانو شکونه قوي شول.

د هرات له پاڅون وروسته، داسې شکونه او اشارې هم ډېرې شوې چې گني (سي ای اې)، ایران او پاکستان په افغانستان کې ځینې قبایل او اسلامي کومندانان راپورته کېدو ته هڅول چې د تره کي ـ امین نظام د خطر احساس وکړ او له مسکو یې د ستراتیژیکو موقعیتونو د ساتنې په موخه د محدودو پوځیانو د استولو غوښتنه وکړه. خو مسکو یې ځکه غوښتنه رد کړه چې دغه محدوده مداخله د "افغان پاڅون" د کمزورۍ تفسیرولو د اعتراف په معنا تمامېدای شي.

د ۱۹۷۹ کال په اوړي کې، د سپینې ماڼې د ملي امنیت چارو سلاکار او د شوروي اتحاد سرسخته دښمن چارواکی زبیګنیو بریجنسکي د ولسمشر جیمي کارټر له خوا هغو افغان مجاهدینو ته د مرستې ورکولو د پټ امر په لاسلیکولو وتوانېد، چې پخپل هېواد کې یې د شوروي د نفوذ د مخنیوي لپاره مبارزه کوله.

## کابل کې کودتا

دا پټ امر په حقیقت کې د تره کي او امین د نظام او په افغانستان کې د شورویانو لپاره د ستونزو راپورته کېدو پیلامه وه. د ۱۹۷۹ کال د جون پر ۲۳ مه، پلازمېنه کابل کې پوځ کودتا وکړه. د اګسټ پر ٦ مه، د پوځ یوه کنډک د سي ای اې او د پاکستاني جاسوسانو تر څارنې او یا لارښونې لاندې په هڅونې کودتا پیل کړه او د کابل بالا حصار د کلا نیولو هڅې یې پیل کړې، دې ستراتیژیکې کلا نه د پلازمېنې کابل ټولې سیمې هدف ګرځېدلی شوای.

شورویان په حفیظ الله امین شکمن شول، چې ګني د پوځي کودتا تر شا دده لاس دی او یا لارښونه پر هغه څه خبر و چې پېښېدل. شورویانو ویل دا چې امین په کابل کې د امریکا له سفارت سره ښه اړیکي لري، په حقیقت کې غواړي ځان واک ته ورسوي او ''افغان کودتا'' شخصي دیکتاتوري وګرځوي، هغه هم د واشنګټن په ملاتړ.
د ۱۹۷۹ کال د سپټمبر پر ۱۷ مه، کابل کې د ډلو ترمنځ د واک پر سر جګړې ونښتې، چې په لړ کې یې نور محمد تره کی (چې مسکو ته نژدې سړی و) ووژل شو او حفیظ الله امین یې ځای ناستی شو.

د افغان ډلو ترمنځ دسیسو او د خونړیو نښتو په دې ګډوډه فضا کې، چې په افغانستان کې د شپږو بهرنیو هېوادونو ( امریکا، شوروي، ایران، پاکستان، هند او بریتانیا) د استخباراتو لاسونه هم وو، کرملین په افغانستان کې د مداخلې هوډ وکړ، په تېره بیا ـ لکه څرنګه چې لیکوال محمد حسنین هیکل وایي ـ وروسته تر هغه چې شوروپانو شوروي پلوه افغان افسر ببرک کارمل د واک ګدۍ ته ورتېل واهه، کارمل لا د ولسمشرۍ ماڼۍ ته نه وو ننوتلی، چې شوروي پوځ په دې پلمه پر افغانستان ور مارش شو، چې وضعیت له کنټروله وتونکی ښکاري، خو په افغان پوځ کې د امریکا او پاکستان استخباراتي فعالیتونو وېش ته اېښې وه، او په کابل کې یې ځینو مخالفو عناصرو ته له امریکا سره د تفاهم چمتووالي لپاره لاره هواروله.

کرملین په افغانستان کې د امریکا د استخباراتي فعالیتونو له بربنډېدو وروسته د مداخلې پرېکړه وکړه. همداشان، دا یې هم لیرې نه ګڼله چې ګني په ۱۹۷۸ او ۱۹۷۹ کلونو کې د کمونیستي نظام پرضد د پوځي کودتا تر شاه دې هم د سي ای اې لاسونه وي.

مسکو په دې اند و چې د امریکا استخبارات افغانستان کې د پټو معلوماتو راغونډولو په درشل کې دي. وېره یې دا وه چې د امریکایانو هدف دې د شوروي اتحاد پر سوېلي پولو له ناامنیو د ډک حالت رامنځ ته کول وي. د وضعیت د تحلیل په اړه، کرملین په دې اند و چې شاید په ۱۹۷۹ کال امریکا په ایران کې د شاه له پرځېدو وروسته خپلې اډې له لاسه ورکړې وي او شاید د ځای ناستي ټاکلو لپاره یې پاکستان غوره وګڼي او شاید د ایران پرځای افغانستان په سیمه کې د امریکا د اډې په توګه وکارول شي.

کله چې افغانستان او پاکستان د امریکا تر لاس لاندې شول، نو هغه مهال امریکایان په افغانستان کې لنډواټن ویشتونکي توغندي هم ځای پرځای کولی شي، چې په دې سره په سیمه کې ـ په تېره بیا قزاقستان کې ـ د شوروي اتحاد ستراتیژیکې ګټې ګواښلی شي.

خو د بريجنسکي له ليدلوري چارې ښېل ډول وې. پر افغانستان له يرغل څو مياشتې وړاندې هغه په پټه افغان مجاهدينو ته وسلې ورکولې.

پر دغه ـ د شوروي له يرغل وړاندې افغان اسلامپالو ته د امريکايي وسلو د ملاتړ په اړه ـ حقيقت بريجنسکي تر هغو پورې اعتراف نه کاوه، مگر څو کاله وروسته يې دا خبره ومنله. د امريکا رسمي خبره دا وه چې ولسمشر کارټر د شورويانو له مداخلې وړاندې د پاکستان له لارې افغان مقاومت ته د وسلو له ورکړې سره مخالف و.

خو د ۱۹۹۸ کال په جنورۍ مياشت کې، بريجنسکي په ډاگه د فرانسې ''لونووېل ابزرواتور'' مجلې ته وويل: ''هغه حقيقت بالکل ښېل دی، چې تر نن پورې نه دی په ډاگه شوی: ولسمشر کارټر د ۱۹۷۹ کال د جولای پر ۳ مه، مسکو ته د نژدې واکمن افغان نظام مخالفانو ته د پټې مرستې د لاس له غځولو سره د موافقې امر وکړ.

په همدې ورځ مې ولسمشر ته يو راپور وليکه او ورته ومې ويل، زه باوري يم چې دا مرسته به په افغانستان کې شوروي پوځي مداخلې ته اړباسي''... د مرکه کوونکي خبريال دې پوښتنې ته په ځواب کې چې ددې کار گټه څه وه؟ بريجنسکي وويل: ''دا پټه پرېکړه ښه مفکوره وه، ځکه شورويان يې د افغانستان جال ته ورټېل وهل. نو ولې له ما غواړې چې پرې پښېمانه شم؟''.

**د سره پوځ ننوتل**

بريجنسکي زياتوي، د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲۳ مه، د افغانستان خاورې ته د روسي پوځ ننوتلو له رسمي اعلان سم لاسي وروسته يې ولسمشر کارټر ته په يوه راپور کې وليکل چې: ''دا دی موږ ته اوس فرصت په لاس راغی چې شوروي اتحاد ته د ويتنام ځانګړې جګړه وړاندې کړو''. بريجنسکي خپلې خبرې پر دې ورنغښتې وې چې شورويان په داسې جګړې کې ښکېلتيا ته اړايستل شول چې د لسو کلونو په اوږدو کې يې ''زغم نه لري'' او دا جګړه په پای کې د شوروي امپراتورۍ د هوډ په ختمېدو او ټوټې کېدو تمامېږي.

خو دا چې ايا څرنګه شوروي اتحاد د کرملين د پرېکړې له مخې پر افغانستان د پوځي يرغل په افغان جال کې راګير شول، په اړه يې محمد حسنين هيکل جزييات په دقت سره په ډاګه کوي، او له اصلي سرچينو يې را اخلي، همداشان له هغو کسانو يې ترلاسه کړي چې په اړه يې د پرېکړې په کولو کې برخه درلوده. دا کار يادې موضوع ته رېښتينولي وربښي او ډېر مهم مستند اړخ ورکوي.

له دې ځايه، د شوروي کوماندې له خوا افغانستان ته د سرو لښکرو د ننوتلو پرېکړه اسانه نه وه، بلکې داسې يوه پېچلې ازموينه وه، که چېرې ورته چمتو نه وای ورباندې تېل کېدای شوای. حقيقت دا دی چې د يرغل پرېکړې د کمونيستي ګوند په سياسي دفتر کې وېش ته لاره هواره کړه، همداشان، د سياسي دفتر او د شوروي د وسله والو ځواکو د عالي قيادت ترمنځ اختلاف پيدا شو. د اسنادو له مخې (چې د پخواني ولسمشر بوريس يلسين) په امر يې له وخت وړاندې دوتنې (فايلونه) په دې موخه پرانيستل شوې چې د کمونيستي نظام په دردناکه پايله کې مسؤوليتونه وټاکل شي)، افغانستان ته د شوروي پوځيانو د احتمالي ننوتلو لومړنۍ ښکاره اشاره په کابل کې د شوروي استخباراتو د اصلي استازي جنرال ليونيډ شيبارشين په يادښت کې وه.

په يادښت کې د حفيظ الله امين له خوا د ياغي اسلامپالو له مشرانو سره له پټو اړيکو پرده پورته شوه، چې پايله يې د امريکا د استخباراتي کسانو دا توان موندلی وو چې د هېواد په اړه پوره معلومات راغونډ کړي، او بيا د شوروي په مستندو ليکونو کې په ډاګه شي چې ببرک کارمل په کابل کې خطرناک وضعيت روښانه کوي. بيا کرښې په يوه داسې ګډ يادښت کې سره يوشان شوې چې د سياسي دفتر څلورو غړو ورته وړاندې کړ:

د کورني امنيت څارونکی يوري اندربوف، د بهرنيو چارو وزير اندريه ګروميکو، مرستيال لومړی وزير او د دفاع وزير، او د عقيدوي چارو مسؤول بوريس بوناماريوف. په دې سند کې څلورو ورو چارواکو په ډاګه کړه چې ''په کابل کې وضعيت دا ايجابوي چې د شوروي پوځ هېواد ته ننوځي، او که نه نو افغانستان به ژر د امريکا متحدو ايالتونو او د هغوی اجنټانو ته وسپارل شي، چې دا کار د شوروي د سوېلي (اسلامي) جمهوريتونه امنيت هم له خطر سره مخامخوي.

او کله چې يادښت ـ چې په لاس ليکل شوی و ـ د سياسي دفتر غونډې ته د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲۵مه وړاندې شو، د غونډې پنځو غړو: سوسلوف، ګريچين، کيرلينکو، بلچ او تيخونوف يې مخالفت وکړ. د سياسي دفتر مشر د شوروي اتحاد مشر ليونيد بريجنيف ''پر دواړو ډلو وېشل شوی'' و، ده ويل د سياسي دفتر غونډې ته درې راغوښتل شوي لوړپوړي پوځي مشران د افغان لانجې ته د شوروي پوځ له مداخلې سره مخالف وو، ددغو درو غړو نومونه مارشال، نيکولای اوګارکوف او د پوځ لوی درستيز مارشال سيرګي خرامويف، او د سياسي دفتر د مشر (د شوروي اتحاد د ولسمشر ) پوځي سلاکار جنرال والنټاين وادينيکوف و.

د ډسمبر پر ۲۵ مه او ۲٦ مه بحثونه وغځېدل. ماسپښین بریجنیف د مداخلې له بلاک سره یوځای شو، همدا وو چې د مخالفانو خولې وتړل شوې او پرېکړه صادره شوه. د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲٦ مه، له لمر لوېدو سره، د شوروي پوځي کنډکونو الوتکې د کابل پر هوايي ډګر کوزې شوې، د پوځ زغره والې فرقې هم د سرحد له لارې په چټکۍ سره د افغانستان پلازمېنې ته ځانونه ورسول.

د ډسمبر پر ۲۷ مه، ګهیځ مهال له معمول سره سم پر شپږ نیمو بجو ولسمشر جیمي کارټر په سپینه ماڼۍ کې خپل دفتر ته ښکته شو او هلته د ملي امنیت له سلاکار زبیګنیو بریجنسکي سره مخامخ شو، بریجنسکي یې په بې صبرۍ د راتګ شېبې شمارلې. که څه هم هر ګهیځ همدا وخت د ولسمشر او سلاکار ترمنځ د غونډو معمول وخت و، خو کارټر پوهېده چې بریجنسکي پاروونکی خبر ورته لري.

همدا وو چې بریجنسکي هغه د ګهیځ پر دوو بجو له خوبه راویښ کړ چې افغانستان ته د شوروي پوځ د ننوتلو خبر ورته ووايي. کارټر هم ـ له څلورنیمو ساعتونو وروسته ـ تمه لرله چې د ملي امنیت سلاکار یې په دفتر کې له جزییاتو له ډکو دوسیو او د ځینو غوراویو له لیست او پرېکړې سره په انتظار ورته ناست دی.

له دې ځایه محمد حسنین هیکل وویل، چې ما له لسو کلونو وروسته د ملي امنیت له سلاکار سره د ولسمشر د خبرو جزییات واورېدل، له داسې یوه اړخ نه مې واورېدل چې په نقلولو یې لاسبری و (پخپله بریجنسکي)، په دې وخت کې موږ د ۱۹۸۹ کال د نومبر پر ۱۸ مه مسکو کې د شپې مهال د مصر سفارت په یوه سالون کې ناست وو او هغه مهال سفیر د مصر د بهرنیو چارو اوسنی وزیر احمد ماهر و.

هغه وخت مسکو (د ګورباچوف په ورځو کې او بیا وروسته) د روسانو او امریکا ترمنځ د زور ازمویلو غونډې روانې وې، غونډې د دوو کسانو تر مشرۍ لاندې کېدې، چې په اسرارو خبر وو: ''د نیمې پېړۍ لپاره واشنګټن کې د شوروي د سفیر اناتولي دوبرینین چې د ګورباچوف په سیاسي دفتر کې غړی هم و او د ولسمشر جیمي کارټر د ملي امنیت د سلاکار زبیګنیو بریجنسکي ترمنځ، چې د امریکایي ډلې مشري یې هم کوله.

احمد ماهر په ډیپلوماتیکه ویښتیا او تجربې سره خبرو ته ډېر ځیر و، ده دواړې ډلې (امریکایان او روسان) د مصر سفارت په انګړ کې ماښامنۍ ته راوبللې، په مسکو کې د امریکا د هغه وخت سفیر ماتلوک ـ او یوازې زه د سیالو ډلو په منځ کې دوه ناشنا مېلمانه وو، چې له هېڅ ډلې سره مو تړاو نه درلود.

د ماښامانۍ پر دسترخوان خبرې پیل شوې، اناتولي دوبرینین وپتېیله چې په نوې زمانه کې دیپلوماسي باید د دواړو غاړو ترمنځ پر مخکینۍ سلامشورې ولاړه وي، نیتونه باید د مبهمو ټکو ترشا پکې پټ نه وي، ځکه موږ په داسې زمانه کې یو چې هېڅ کوم اړخ څه نه شي پټولی او په پټو خبرو کې چالاکي او ځان تېرایستنه نوره لازمه نه ده، ځکه په هره شخړه کې د طرفینو کړنو او خبرو ته فضا پرانیستې وي. بیا، پټه فضا ټول په تېروتنه کې غورځوي.

همدارنګه، داسې غبرګونونه پیلېږي، چې مهارول یې ګران وي او ناوړه پایلې زېږوي. دوبرینین د دلیل په توګه افغانستان ته د شوروي اتحاد د پوځیانو استولو پرېکړې ته اشاره وکړه، چې په وینا یې څرنګه پټو کړنو د امریکا لورې د شوروي په اند په لویه تېروتنه کې ښکېل شو، په دې معنا چې شورویانو افغانستان ته ننوتل یوازې د دفاع په خاطر ګڼلي وو، خو امریکایانو یې مداخله ''تېری'' وباله.

**د سترګو لیدلی حال**

محمد حسنين هيکل زياتوي: ''کله چې له دسترخوان نه پورته شوو او د سفارت د انګړ په يوه کونج کې د چايو لپاره سره يوځای شوو، بريجنسکي او دوبرينين ته مې وويل چې افغانستان ته د شوروي ځواکونو ننوتلو داستان او د امريکا غبرګون د سړې جګړې په چوکاټ کې مهمه پېښه ده، چې ډېر دقت ته اړتيا لري، همدا ده چې ببرته ستنبدو ته پکې اجازه غواړم.

د سترګو د ليدلي حال له مخې، زه يوازې يوې پوښتنې ته اړ وم، چې دوبرينين ته متوجه وه، هغه داسې ځواب راکړ: ''سمه ده، لاهم زما باور دا دی چې زموږ امريکايي ملګري زموږ د نيتونو په ډاګه کولو کې تېروتل: زموږ دې کار يوازې دفاعي بڼه لرله، او دا يې پروړاندې ښکاره خبره وه، خو دوی دا مداخله برید او دښمنۍ په معنا واخيسته همدارنګه څه يې چې وکړل هغه يې وکړل''.

بيا ''بريجنسکي مداخله وکړه او خبرې يې ډېرې کړې، او نژدې پنځلس دقيقې يې پرله پسې خبرې وکړې او موږ ټولو پرته له دې چې خبرې يې غوڅې کړو، خبرې وکړې، (او کله چې سفير ماتلوک يې په خبرو کې د مداخلې هڅه وکړه، ما په لاس اشاره ورته وکړه او ترې ومې غوښتل چې خبرې يې غوڅې نه کړم، همدا وو چې زما خبره يې ومنله).

بريجنسکي دوربرينين ته وويل: ''څرنګه کېدای شي چې زه او يا بل څوک د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲۷ مه، ګهيځ ستاسې نيتونه 'چې دفاعي کار و'، بدل کړو، حال دا چې زموږ مخې ته شواهد برعکس څه وايي؟''.

بريجنسکي، چې د سياسي علومو د پخوانۍ استادۍ تجربه هم ورسره وه، وويل:

لومړی: په ایران کې د اسلامي انقلاب، بریا او د ایران د نظام له پرځېدو وروسته په سیمه کې وضعیت ډېر ترینګلی و او امریکا یې لوی شیطان باله. څو اونۍ لا تېرې شوې نه وې چې دې هڅونې نتیجه ورکړه، په تهران کې د امریکا سفارت کلابند شو، او ټول بند کسان پکې د قهرېدلو اسلامي ځوانانو یرغمل وګرځېدل.

دویم: (خبره یې دوبرینین ته متوجه وه): تاسو د افغانستان په کورنۍ جګړه کې - چې د کمونیستي حکومت او ډېره کیو مسلمانو اوسېدونکو ترمنځ وه - مداخله وکړه، او په بل ګهیځ د افغانستان پر پولو ورواوښتئ، او د مسلمانانو پرضد د شوروي ځواکونه د کورنۍ جګړې یو طرف شول.

درېیم: ما پخپله او د امریکا د ملي امنیت شورا نورو غړو (چې له ولسمشر سره له سهارنۍ ناستې وړاندې مې غونډې ته راوبلل)، داسې وپتېیله چې په افغانستان کې د شوروي پوځ مداخله د ''پایلې پای'' نه دی، بلکې په دې هېواد کې ''پیلامه'' ده.

بریجنسکي زیاتوي: ''کله چې د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲۷ مه، د ولسمشر کارتر په مخکې کښېناستو، ستاسې د هوډ په اړه یې رانه وپوښتل، ما ورته وویل: ''ښاغلی ولسمشره! موږ د شوروي له داسې پوځ سره مخامخ یوو چې په افغانستان کې د سوېل لوري ته روان دی.

سمندر او خلیج ته افغانستان د شورویانو د رسېدو لپاره تر ټولو نژدې لار ده او موږ په ډاډه زړه هېڅ نه شو کولی چې ګني دوی له افغانستان هاخوا تېرېږي. ان له افغانستان نه هم د هندي ارام سمندر تر ګرمو اوبو پورې دوی ځانونه رسولی شي او یا د خلیج د تېلو سرچینو ته ځانونه ورسوي، چې دا کار یې موږ اقدام ته اړباسي او زموږ تصرف به دوه هدفونه ولري: لومړی هدف:

د شورويانو تم کول چې له افغانستان نه هاخوا پښه کېښېږدي.
دويم هدف: شاتګ او له افغانستان نه وتلو ته اړ کول.

په ډاګه، بريجنسکي وويل، ما ولسمشر ته دا هم وويل چې: ''ښاغلی ولسمشر! روسان د سرېښو په ډنډ کې ښکېل شوي، همدا زموږ لپاره ښه فرصت دی چې د ويتنام ښېګڼه وروګرځوو، نو موږ بايد د دوی لاره بنده کړو او افغانستان داسې يو دام ورته وګرځوو، چې له رسوايۍ پرته د وتلو بله لار ورته پاتې نه شي، او د شوروي دولت شان او شوکت مات شي''.

په دې سره ـ لکه څرنګه چې هيکل وايي ـ په شلمه پېړۍ کې د استخباراتو بريالۍ عمليې کې د امريکا د ډېرې امنيتي او پوځي استخباراتو ګډون دی، چې ''شوروي اتحاد ته مزاحمت وکړي''.

لکه څرنګه چې بريجنسکي اټکل کوي، د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۲۷ مه، ګهيځ د ولسمشر کارټر په حضور کې د ملي امنيت شورا جوړه شوه، چې په ''افغانستان کې د شوروي د پوځي يرغل او د امريکا متحدو ايالتونو ته د غبرګون په اړه پرانيستي غوراوي'' وڅېړي.

**د ملي امنيت شورا مهم ټکي**

د ملي امنيت شورا په حقيقت کې د ملي امنيت د سلاکار زبيگنيو بريجنسکي او د مرکزي استخباراتو د مشر اميرالبحر ستانسفيلډ تيرنر ترمنځ فعالې خبرې وې او د امريکايي وثيقو له مخې ـ چې کارتر او د بهرنيو چارو وزير سايروس فانس (او پخپله د بريجنسکي يادښتونه) پکې وو، د ملي امنيت شورا پر لاندې ټکو ټينگار درلود:

١) د ملي امنيت د سلاکار بريجنسکي له خوا وړانديز او له مرکزي استخباراتو او د ملي امنيت له اژانس او د دفاع وزارت له استخباراتو سره موجوده اسناد ښيي، چې په افغانستان کې د شوروي پوځي يرغل اندازه پراخه ده، نو هغه احتمالات چې ردېدل يې ليرې نه دي، ددغو ځواکونو راتلونکی هدف به تر عرب سمندر او هندي سمندر پورې خليج وي، چې دا د امريکا د ملي گټو لپاره يو گواښ دی''.

٢) د امريکا متحده ايالتونه په ښکاره په افغانستان کې د شوروي پرضد مداخله نه شی کولی؛ ځکه چې له دغه هېواد سره هېڅ ډول مشترکې دفاعي هوکړې نه لري او له قانوني اړخونو د تجاوز ښکاره مداخله يې له شوروي اتحاد سره نبغ ټکر ته لاره هواروي، چې شايد د شورويانو غبرگونونه راوپاروي او دا کار خليج ته (ان تر عرب سمندر او هندي سمندر پورې) احتمالي خطر نه، بلکې ريښتينی گواښ جوړوي.

٣) په خليج کې د امريکا له متحده ايالتونو نه د خپل پوځي حضور د غښتلتيا غوښتنه شوې، چې تر اوسه يې باوري سفيرانو له ''سيمه ييزو غاړو'' غوښتي چې له رسنيزې غوغا پرته په ارامۍ له امريکا سره د مخکينيو هوکړو او تفاهم ليکونو له مخې د پوځي همکارۍ اجازه ورکړي.

۴) د امریکا متحده ایالتونه باید په افغانستان کې د مقاومت لا نور فعالیت ته وهڅوي، او هلته د شوروي پوځ پښې ووهي، بیا د شوروي پوځ پکې ښکېل وګرځول شي، معنا دا چې وینې یې وبهېږي او په پای کې شورویان له افغانستان نه په یوه نامناسبه پوځي فضا کې له پوځي ماتې وروسته وتلو ته اړایستل شي.

۵) دا چې د امریکا متحده ایالتونه په افغانستان کې د شورویانو ضد دښمنانه مهم پوځي فعالیتونه نه شي پیلولی ـ په دې چې د دواړو قوتونو ترمنځ وسله واله ښکېلتیا رامنځ ته نه شي ـ نو امریکا باید په افغانستان کې د دغې سپکې جګړې لپاره بدیل قیادت ومومي او دغه قیادت باید کورنی وي، چې په افغانستان کې د شورویانو پرضد د ''عملي مداخلې'' لپاره یو ډول مشروعیت ورکړل شي.

٦) دا چې افغان مقاومت په افغانستان کې وضعیت ګډوډ کړ، یو اسلامي مقاومت و، باید دوام ورکړل شوی وای او په اسلامي نړۍ او اسلامي هېوادونو کې یې ټولو ملګرو او ملاتړو مرستې ته وردانګلي وای او د یوه داسې پراخه اسلامي ایتلاف جوړېدو ته رسېدلي وای چې په افغانستان کې د شورویانو د جګړې تر عُهدې وتلی وای.

٧) دغه مقاومت باید د وسلې او مهماتو نه غوښتونکې سرچینه لرلی. کله چې له یوه حاضر نه د منبع په اړه وپوښتل شول، ځواب یې دا و چې (له بریجنسکي نه): باید له هرځای یې ترلاسه کړو، ویې پېرو، په کرایه یې واخلو، او که اړتیا وي غلا یې کړو.

۸) غوره دا ده چې په شوروي کې جوړې وسلې ترلاسه شي، تر څو د امریکا دا تور ګران تمام شي چې ګني هغه یې سرچینه ده او دا یو داسې فرصت ورکوي، چې شورویانو ته ووايي، دا د شورویانو وسلې اسلامي مقاومت له شوروي اتحاد ترلاسه کوي او یا یې په افغانستان کې د شوروي له ځواکونو تر ګوتو کوي.

۹) سعودي عربستان وړاندې په افغانستان کې د اسلامي عناصرو همکارۍ ته لاس غځولی و. لکه څرنګه چې رپوټونه وايي، سعودي عربستان چې اوسمهال په ایران کې د اسلامي انقلاب له خوا پرې د فشار احساس کوي او په دې اند دی چې په ایران کې د شاهي نظام ړنګېدل د واکمنې کورنۍ لپاره ښه زېری نه دی، دا ځکه چې له خپل دودیز ګواښ نه لاس واخلي او ''د شوروي پرضد په یوه سپېڅلي اسلامي نظام کې'' د هېواد معنوي او مادي سرچینه ولګوي.

که چېرې هېواد ملاتړ ته لېواله وي، نو وسلې یې له ګنو سرچینو پېرل کېدای شي (او پیسې یې د اسلامي جهاد په ګډون د ټولو جګړو یوځای کول دي).

۱۰) د احتیاط له اړخه، ددې احتمال لپاره چې هېواد دغه مقدس جهاد ته په یوازې سر له وتلو څخه تل پښه نیولی وګرځي، ضروري وه چې د پراخه اسلامي او قوي اسلامي شراکت د ملاتړ له لارې دا کار شوی وای، داسې چې د یوه اسلامي تجمع په سر کې یې مخکښ رول لوبولی او ''جهاد'' ته له دین او شریعت نه د دفاع په خاطر ورګډېدی.

سعودي په حقیقت کې ـ لکه څرنګه چې هیکل وايي ـ د هڅونې د موجودیت په صورت کې دغه رول ته چمتو و؛ ځکه په ایران کې اسلامي انقلاب په سعودي کې یو ډول اسلامي اندېښنه راپورته کړه، چې ګني په هېواد کې سخت دریځي وهابي مشران د هېواد په شتمنۍ کې د واکمنې کورنۍ پر کړنو د

نیوکې غږ پورته نه کړي، همدرانګه، د ایران اسلامي انقلاب د هېواد په ختیځو سیمو کې غبرګونونه هم لرل، چې تر ډېره پکې شیعه ګان مېشت دي او په اصل کې یې له نظام سره اړیکي هم ترینګلي دي.

۱۱) مصر ته هم قناعت ورکول کېدای شوای چې سعودي ته ''په افغانستان کې د شوروي اتحاد ضد اسلامي مداخله کې'' قوي سند وړاندې کړي او ولسمشر انور السادات د شوروي اتحاد پرضد عمل ته هر وخت چمتو و. همدارنګه د هغې هوکړې له مخې هم په دې تړاو فعالیت ته په هڅه کې و، چې سعودي، مراکش، ایران، مصر او فرانسه یې غړي وو، دا چې دغې هوکړې تر ډېره خپل فعالیتونه پر افریقا ورټول کړي وو، خو د ولسمشر سادات قانع کول ګران کار نه و، چې ددغه ډول فعالیت لپاره بله جبهه هم پرانیزي او په افغانستان کې د شوروي پرضد د جهادي عمل لپاره متې بډوهي.

په دې سره ولسمشر سادات په ځینو نورو انګیزو هم قانع کېدای شوای:
ـ په ایران کې اسلامي انقلاب له دې وېرې د سادات ذهن ګډوډ کړی و، چې په مصر کې د اسلامي ډلو نفوذ ډېرېدل ستونزه جوړه نه کړي او ولسمشر سادات ځکه د ایران د انقلاب په اړه په غوسه و، چې هلته د پهلوي د کورنۍ واکمني ختمه شوه او ملګری یې د ایران شاه محمد رضا پهلوي له واکه لیرې شو.

ـ ولسمشر سادات تر ډېره حده له امریکا متحدو ایالتونو سره همکارۍ ته لېواله و او دا باور یې د ریچرډ نیکسن او هینري کسینجر د ادارو له مهاله ورسره و چې ''د منځني ختیځ ۹۹ سلنه حل یوازې د امریکا په لاس کې دی''. دی د هغه څه په اعلانولو کې مقصر نه و چې باور یې پرې کاوه.

[د هيکل په وينا، دا د ولسمشر سادات او د ايران د شاه ترمنځ د مصري سياست اړيکه وه، ځکه چې شاه په پرله پسې توګه اسرائيلو ته تر ټولو نژدې ملګرى و او د ايران پيټرول په ١٩٥٦ کال د سويس په جګړو، او د ١٩٦٧ کال د سيناء د جګړې او له ١٩٦٧ کال نه تر ١٩٧٠ کال پورې په جګړې کې د اسرائيلي هوايي او سمندري پوځ د وسلو او پوځي توکو سونتوکي وو.

خو ولسمشر سادات نه يوازې له ايران نه، بلکې له امريکا نه هم د شاه له شړل کېدو وروسته په مصر کې د شاه د کوربه توب د دفاع په خاطر وويل: ''د ايران شاه ځکه مېلمه کړاى شو چې دغه سړي وړاندې له مصر سره ښېګڼه کړې وه او د ١٩٧٣ کال مصري جګړې لپاره يې د ضرورت وړ هغه پيټرول ورکړل چې مصر اړتيا ورته لرله او ولسمشر سادات د ايران له شاه وغوښتل، شاه د ايران د پيټرولو لېږدولو يوه بېړۍ له اصلي تګلوري راوګرځوله او مصر ته يې وسپارله''. او دغه پېښه سمه وه ـ لکه څرنګه چې هيکل وايي ـ چې په وينا يې ''په دې پېښه کې د حقايقو پرځاى احساسات ډېر وو'' ... او ښکاري چې ولسمشر سادات د ايران د شاه همکارۍ ته چمتو دى.

محمد حسنين هيکل د امريکا د ملي امنيت شورا ته په اشارې سره وايي: ''په هر حال، د ١٩٧٩ کال د سپټمبر پر ٢٧ مه، ګهيځ د ولسمشر کارټر په مشرۍ د امريکا د ملي امنيت شورا خبرې د ولسمشرۍ په داسې حکم پاى ته ورسېدې چې:

'د ملي امنيت سلاکار زبيګنيو بريجنسکي دې منځني ختيځ ته خپل سفر په مصر او له ولسمشر انور سادات سره په کتنې پيل کړي او له هغه سره دې د شوروي نيواکګر پوځ پروړاندې د افغان اسلامي مقاومت د مرستې په موخه د پراخه اسلامي هڅو د منظمولو پرسر خبرې وکړي؛ بيا دې بريجنسکي له قاهرې نه رياض ته د پاچا خالد او ولي عهد فهد او د دفاع وزير شهزاده سلطان کتنې ته ولاړ شي او په افغانستان کې دې د کمونيزم پرضد د اسلامي جهاد مشرانو ته د سعودي د سرچينو او نفوذ په اړه خبرې وشي.

که چېرې بریجنسکي پخپله دنده کې له ولسمشر سادات سره بریالی شو 'نو کولی شي سعودي مشرانو ته دا ډاډ ورسوي چې گني دوی د جهاد په ډگر کې یوازې نه دي'.

په پای کې، د امریکا د ملي امنیت سلاکار پاکستان ته ولاړ چې د سعودي د سرچینو او نفوذ په مټ د حکومت دریځ پیاوړی کړي ـ او تر دې چې په اسلام اباد کې حکومت دا باور پیدا کړي چې گني په یوه اسلامي کار کې دخیل دی او پر ځمکه یې د اسلام قوت او امکانات راغونډ شوي''. دا د پاکستان یو لیرې خوب او خیال و، چې اوس ربنتیا کېدو ته نژدې شوی و.

د ۱۹۸۰ کال د ډسمبر میاشتې په لومړۍ اونۍ کې، د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار بریجنسکي منځني ختیځ ته په پټ سفر کې و. د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ پر ۳ مه، یې له ولسمشر سادات سره درې نیم ساعته خبرې درلودې. په بله ورځ (د جنورۍ ۴ مه) یې په جده کې شهزاده فهد او شهزاده سلطان وکتل او په بله ورځ بریجنسکي اسلام اباد ته ورسېد چې د لادینۍ پرضد د اسلام په نامه جهاد ته لاره هواره کړي.

خو لکه څرنگه چې دا عملیه واضح شوه، تر شاه یې د ښکاره په پرتله ډېر څه وو، ځکه هغه اسلامي جهاد چې د شوروي ځواکونو پرضد اعلان شوی، د شوروي پوځ د ننوتلو طبیعي غبرگون نه و، بلکې د سیاق منځ کې پلان و:

ـ لومړی گام د امریکا دا فرمان و چې په افغانستان کې له خپلو اډو نه په جنوبي جمهوریتونو کې شوروي تر پزې راولي.

ـ او دویم گام تر دې اندازې ددغه فعالیت ډېرول وو، چې شورویان پوځي مداخلې ته اړباسي.

ـ دریېم او وروستی گام دا چې د شوروي د مداخلې په صورت کې د جهاد اعلانول دي.

دا ټولې خبرې د حقایقو په داسې سیاق کې وې، په پای کې بریجنسکي پرې د ناڅرگندتیا یوه اندازه خړه فضا خپره کړې وه، خو په پای کې یې د خپل ذهن زېرمه (پاڼې) پرانیستې او ـ لکه څرنگه مو چې مخکې وویل ـ د فرانسې له (لونووېل ابزرواتور) سره یې پخپلو اوږدو خبرو کې کاملاً ومنله. او خبرې یې په لاندې ډول وې:

پوښتنه: د امریکا د استخباراتو مخکینی مشر رابرټ گیټس (له سیوري نه) په نامه یادښتونو کې ولیکل چې امریکایي استخباراتو په افغانستان کې په پراخه اندازه د شوروي پوځ له ننوتلو شپږ میاشتې وړاندې د مجاهدینو مرسته پیل کړه او ته هغه مهال د امریکا د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار وې، په دې معنا چې ته پوهېږې او تا پکې رول درلود، ایا څه چې گیټس ویلي، سم دي؟

بریجنسکي: هو، لکه څرنگه چې رسمي سندونو راخیستي، د امریکا متحده ایالتونه له ۱۹۸۰ وړاندې په افغانستان کې پخپل قوت نه ده داخله شوې، مگر څو اونۍ وروسته تر هغه چې شوروي ځواکونه کابل ته ننوتل، خو په ریښتیني تاریخ کې (پرته له دې چې رسمي سندونه په پام کې ونیول شي)، شپږ میاشتې وړاندې د مجاهدینو د لاسنیوي پخاطر د امریکا مداخله پیل شوه.

ما د ۱۹۷۹ د جولای میاشتې پر ۳ مه، د ولسمشر کارتر له خوا په کابل کې ټولو شوروي ضد عناصرو ته د ممکنه مرستو د وړاندې کولو پر ولسمشریز فرمان کار وکړ، هغه ورځ مې ولسمشر ته یو یادښت ولیکه چې پکې ومې ویل:

''د شوروي دریځ په افغانستان کې ورځ تر بلې گرانېږي، باوري یم چې موږ فشار یوڅه پورته کړی. زما په باور شوروي اتحاد به په مستقیم ډول په افغانستان کې د پوځي مداخلې لپاره لاس په کار شي''.

پوښتنه: په دې معنا تا هغه څه وکړل چې ما د شورویانو د سپکاوي لپاره په لوی لاس وکړل؟

بریجنسکي: دقیقاً نه، موږ روسان اړ نه کړل چې مداخله وکړي، خو پوهېږو چې موږ څه کوو - د دوی د مداخلې احتمال مو ډېر کړ - چې همداسې وهم شول.

پوښتنه: ایا ددې معنا دا ده چې روسان په دې اساس افغانستان ته په ننوتلو کې په حقه وو چې گني د امریکا له لارې د دوی پرضد د پټو فعالیتونو د مخنیوي لپاره اړایستل شوي؟ دوی به همداسې ویل خو هېڅا یې خبره ریښتینې نه گڼله او اوس روښانه شوه کوم څه چې دوی ویل یوڅه حقیقت لري او دا کار د تأسف وړ دی؟.

بریجنسکي: تأسف پر څه شي؟ هغه پټه عملیه چې موږ کار ورباندې کړی و، ښه مفکوره وه او شورویان یې په چال کې گیر کړل، زموږ هیله دا وه چې پکې ښکېل شي، دوی مداخله وکړه، ایا تاسو غواړئ درته ووایم چې زه پر هغه پلان تأسف کوم چې موږ جوړ کړ، عملي مو کړ او ښه بریالی شو؟

بریجنسکي زیاتوي: ''هغه ورځ چې روسان له پوځ سره افغانستان ته ننوتل، ولسمشر کارټر ته مې یو یادښت ولیکه چې: ''اوس زموږ په مخ کې داسې یو فرصت دی چې شوروي اتحاد هغه زهرجنه پیاله وڅښي چې په ویتنام کې موږ څښلې وه او حقیقت دا دی چې موږ د لسو کلونو لپاره روسان د وینو په ډنډ کې سرښښ کړل، دوی ته په اقتصادي ډګر کې ډېر زیان واوښت، وسلې یې وکارېدې د پوځیانو معنویات یې کمزوري شول او خپل شان او شوکت ته یې زیان واوښت، او دا کار په پای کې د شوروي امپراتورۍ د ټوټې کېدو لامل شو.

پوښتنه: ایا پوهېږې ددې معنا دا ده تاسو هغو ترهګرو ته وسلې ورکړې وروسته ستاسې دښمنان وګرځېدل؟ ... په دې سره تاسو د ترهګر اسلام انځور جوړ کړ.

بریجنسکي: لوېدیځ ته کوم یو غوره دی: د شوروي اتحاد ماتېدل او که د ځینو اسلامي ډلو په مټ د ترهګرۍ ترخې څکل؟ لوېدیځ ته کوم یو خطرناک دی: طالبان او که شوروي اتحاد؟

پوښتنه: خو اسلامي ترهګري پر یوې لوړې څپې بدلېدلی شي؟

بریجنسکي: دا بابیزه خبره ده، اسلام د نړیوالتوب له پدیدو سره ګډوي، له هیجان پرته که اسلامي وضعیت ته وګورو، نو ددغه دین پلویان احترام ورته لري چې شمېر یې یونیم میلیارد انسانانو ته رسېږي، خو دین دوی پر لوستي تحلیل له سیاسي پلوه نه سره راټولوي.

هغه څه دي چې یو بنسټپال مسلمان له سعودي عربستان نه پاکستان کې له یوه پوځي مسلمان سره یوځای کوي، یا د لوېدیځ یو منځلاری مسلمان یا له مصر نه یو متعلم مسلمان او یا د اسیا له منځه یو قبایلي مسلمان سره یوځای کوي؟ په نړۍ کې هېڅ داسې څه نه شته چې دوی سره راټول کړي، پرته له هغه څه چې د نړۍ عیسویان سره راغونډوي!

په دې ټکو سره بریجنسکي - چې دې پروژې ته یې پلان جوړ کړی او هوډ کړی و، خبرې وکړې - او دا پروژه یې ''په افغانستان کې د اسلامي جهاد پروژه'' ونوموله او د امریکا هغه ثابته ستراتیژي یې مخته ورسره بوتله چې لا له وړاندې یې له خپل ولسمشر جیمي کارټر سره یوځای په دې موخه جوړه کړې وه، چې د خلکو په ذهنونو او افکارو کې چورلېدونکې جګړې کې خپل هدف ته پکې ورسېږي او اصلي موخه یې د امریکا د پانګوالۍ برتره کول او د امپراتورۍ غځول و.

### د طالبانو تحریک جوړېدل

دا جګړه دوایت ایزنهاور پیل کړه (چې ورونه جان او الان فوسټر دالاس) هم ورسره وو او جیمي کارټر (له بریجنسکي او ستانسفیلډ تیرنر)سره دوام وکړ، په پای کې جګړه تر جورج بوش (او ډونالډ رامسفیلډ او کونډالیزا رایس او جورج ټینیټ) پورې ورسېده، لکه څرنګه چې هیکل وایي، تر بوش پورې یې رسېدل په بدلېدونکو حالاتو کې له څو پړاوونو تېر شول او په دې لړ کې د افغانستان د غرونو پر سرونو ډېرې واورې ویلې شوې او خوا ته یې امپراتورۍ ذوب شوې.

ددې په رڼا کې، د طالبانو د تحریک رامنځ ته کېدو په اړه بېلابېل نظرونه وو، که څېرې یې تر شا بهرنی اړخ و، یا دا چې په طبیعي توګه هغه مهال د افغانستان د حالاتو په پایله کې راپیدا شو، نو د ډاډ خبره دا هم ده چې ملا محمد عمر د افغان تنظیمونو د یوه مشر مولوي یونس خالص د (حزب اسلامي) ګوند یوازې یو غړی و.

کله چې شوروي پوځیانو کابل کې د کمونیستانو د همکارۍ لپاره پر افغانستان پوځي یرغل وکړ، دده عمر ایله شل کاله و. کورنۍ یې پېښور ته څېرمه د کډوالو په یوه پنډغالي کې اوسېده، دغه ځوان د ''کفارو'' پر وړاندې له پوځسره تر یوځای کېدو مخکې خپلو قرآني زده کړو ته دوام ورکړ.

هغه مهال د شوروي یرغل په وړاندې د مقاومت ډلې پر څو جهادي تنظیمونو ووېشل شوې، دوی د امریکا د استخباراتو (سي ای اې) او د پاکستان د خارګرو تر واک لاندې مرکزونو کې د ''چریکي جګړو'' تکتیکونه زده کړل. هلته ملا عمر هم تمرینونه وکړل. د یوشمېر ثبوتونو له مخې، محمد عمر دوه کاله د شوروي یرغل پر وړاندې وجنګېد، یوشمېر ټانکونه یې ویجاړ کړل او د مجاهدینو د یوه کنډک د مشرۍ اجازه ورکړل شوه او خپله ښۍ سترګه یې پکې له لاسه ورکړه.

د شوروي پوځ له وتلو او د کمونیستي نظام له سقوط او د پلار له مړینې وروسته له خپلوانو سره افغانستان ته ستون شو او په ''سنګسار'' کې یې خپل قرآني تدریس ته دوام ورکړ، په دې فقیر کلي کې د طالبانو کیسه پیل شوه او د ملا عمر راپورته کېدل پیل شول.

د طالبانو له راپورته کېدو – چې بهرنيو او کورنيو عواملو يې راڅرګندېدو ته لاره هواره کړه - وروسته په دوو کلونو کې دوی کابل ونيو. ددغو لاملونو په رڼا کې دغه تحريک هغه مهال راپيدا شو چې افغانستان کې ناوړه وضعيت تر اوج پورې رسېدلی و او ددغه حرکت د پيدا کېدو لپاره شرايط ښه مهيا شوي وو؛ ځکه هغه مهال يې طالبانو ته افغانانو ډېر درناوی درلود، ځکه همدوی په ولس کې پاک، امانتداره او په دين ولاړ ګڼل کېدل …

## جنرال حميد ګل

په دې سره څارونکي او سياسي شنونکي په يوه خوله دي، چې د طالبانو تحريک د پاکستان په سياسي او لوژستيکي ملاتړ او د امريکا د تېلو په تمويل او وسلو رامنځ ته شو. لکه څرنګه چې يوسف الجهماني پخپل (توره بوره؛ د پېړۍ لومړۍ جګړه) کتاب کې ويلي، پاکستان له دغه تحريک نه لومړی ګټه اخيستونکی اړخ و.

ځکه يې نو هغه مهال د خپل استخباراتي ارګان له لارې د پاکستاني حکومت او امريکايي ادارې ترمنځ ددغه تحريک د جوړېدو، همغږۍ او څار دنده مخته وړله او مادي ملاتړ يې د سي ای اې او نورو اړخونو له خوا کېده. دغه نظر وايي، پاکستاني چارواکي - چې د پاکستان د څارګرې ادارې (ای اېس ای) پخوانی مشر جنرال حميد ګل هم پکې و - په دې اند دي چې د طالبانو تحريک په افغانستان کې د "امريکو - پاکستان" کرل شوی زړی دی. حميد ګل تر دې هم وړاندې تللی، ده د ۱۹۹۵ کال د اکتوبر مياشتې پر ۱۸ مه د اسلام اباد ستراتيژيکو څېړنو مرکز کې جوړ شوي کنفرانس ته وويل: "په افغانستان کې د پاکستان سياست د امريکا د مرکزي استخباراتو له خوا مخته بېول کېږي او د طالبانو تحريک په افغانستان کې وکرل شو".

د یادولو ده چې افغان مجاهدینو له امریکا سره د شورویانو د وسلو د پټو رازونو په کشفولو کې د همکارۍ مهم رول ولوباوه، ''داسې لکه دوی چې د امریکا د ملاتړ یوه برخه احسان بېرته ورګرځولی وي''. ښکاره وه چې د نوي یمې لسیزې وروستیو کې، د امریکا او پاکستان ترمنځ اړیکي ترینګلي وو، چې لامل یې د پاکستان اټومي پروګرام و او د دې پروګرام هدف د هند د اټومي پروګرام پر وړاندې غبرګون ښودل وو. واشنګټن پر اسلام اباد بندیزونه ولګول چې ګوندې له دې پروګرام لاس واخلي.

د ۱۹۷۹ کال په سپټمبر میاشت کې پر افغانستان د شوروي یرغل یو ډول نوی او پېچلی وضعیت رامنځ ته کړ.  له یوې خوا امریکا درک کړه چې په افغانستان کې د ''سره پوځ'' پروړاندې د جګړې لپاره پاکستان یوازېنی ممکنه اډه ګرځېدلی شي، په تېره بیا په ایران کې د شاه د نظام له ړنګېدو وروسته، خو د پاکستان د اټوم بم د پروژې په اړه یې هم سترګې نه وې پټې کړې.

له بل پلوه، د پاکستان نظام سختو اقتصادي همکاریو او له دیپلوماتیکي انزوا نه د وتلو لپاره ډېره اړتیا لرله، خو له اټومي پروژې تېرېدو ته یې هم زړه نه و.

## له مرستو انکار

کله چې د ملي امنیت په چارو کې د امریکا د ولسمشر جیمي کارټر سلاکار زبیګنیو بریجنسکي د ۱۹۸۰ کال په جنورۍ میاشت کې اسلام اباد کې په لومړي ځل د پاکستان د هغه وخت له ولسمشر ضیاء الحق سره وکتل، دواړه پر دې سلا شول چې پوځي او مالي مرستې دې د پاکستان له لارې تېرې شي او پاکستان به افغانستان ته له تګ وړاندې پخپله خاوره کې افغان یاغي اسلامپالو ته پوځي تمرینونه ورکوي. واشنګټن ددې جګړې په لومړۍ کرښه کې د ځان له څرګندولو سخته ډډه کوله او اسلام اباد یې د مخکښې رول لوباوه. ددې په مقابل کې، ضیاء الحق خپل شرطونه وړاندې کړل:

امریکا ته مرستې استونکي هېوادونه (امریکا، مصر، سعودي عربستان، چین، بریتانیا، فرانسه او اسرائیل) باید په دې موضوع کې چوپه خوله پاتې شي او د اړتیا په وخت کې باید د هر راز مرستو په استولو منکر شي.

دغه مرستې لومړی د پاکستان د پوځ لاس ته لوېدې، چې د خپلو استخباراتي ادارو په مټ یې د افغان مقاومت پر اوو اسلامي تنظیمونو وېشلې، دغه گوندونه د ډېرو پېچلو مذهبي، قبیلوي، او شخصي گټو او بهرنیو اړیکو پربنسټ جوړ شول. خو د اشتراک اصلي لامل یې فساد او د مادي گټو لټول وو؛ ځکه ډېره برخه مرستې مجاهدینو ته له رسېدو مخکې په تدریجي ډول کنډې او کیړې کېدې او ان مجاهدینو ته له رسېدو وړاندې د ځینو اسلامپالو قوماندانانو جیبونو ته د شخصي موخو لپاره لوېدې.

امریکایانو غوښتل چې افغان مقاومت ته دې په شوروي کې جوړې وسلې ورسول شي، دا کار یې ددې لپاره کاوه چې شورویان داسې دلیل پیدا نه کړي چې گني واشنگټن په دې جگړه کې ښکېل دی. او د شوروي وسلې له مصر سره پرېمانه وې، همدا وو چې د مصر ولسمشر انور السادات پاکستان ته د وسلو پر استولو سلا شو او واشنگټن اسرائیل راضي کړل چې د عربو ضد جگړو (په تېره بیا د ۱۹٦۷ جگړه) کې د غنمیت په توگه شوروي جوړې نیول شوې وسلې پاکستان ته واستوي ... ان تر دې حده چې په مصر کې د وسلو جوړولو فابریکه د شوروي د مصنوعي وسلو جوړولو په کارخانه بدله شوه.

همدارنگه، واشنگټن په نړیوال بازار کې د شوروي جوړو وسلو د خرڅلاو په لټه کې و، په تېره بیا د ختیځې اروپا له هېوادونو ـ خصوصاً بلغاریا نه ـ په نامستقیمو لارو دا کار وشو.

لکه څرنګه چې جان کولي پخپل (نامقدسې جګړې) کتاب کې لیکلي، تمویل ستونزه نه وه، ځکه چې د بریجنسکي او سعودي ترمنځ د افغانستان د جګړې د تړول لګښت د وېش په اړه هوکړه وشوه چې هر یو به یې پنځوس سلنه پرې کوي. پیسو نه یوازې افغان مقاومت ته د مرستو رسولو په بڼه په افغانستان کې مهم رول ولوباوه، بلکې په ډګر کې د یوې مستقیمې وسیلې په توګه، په تېره بیا د امریکا د پټ پروګرام (سوفمات) په چوکاټ کې ترې ګټه اخیستل کېده، چې هدف یې له شپېتمې لسیزې او د ویتنام له جګړې راهیسې په شوروي کې د جوړو شویو وسلو د صنعت پټ راز معلومول وو.

## ستینګر توغندي

په افغانستان کې د جګړې له پیله په ډاګه شوه چې د شوروي پوځ مورال ډېر ټیټ و او په فساد سره یې ماتول ممکن وو. همدا وو چې د امریکا استخبارات د افغان منځګړو له لارې په پراخه کچه د هغو نویو شوروي وسلو په اخیستلو وتوانېدل چې وړاندې هېڅ کاربدلې نه وې او لاهم اصلي ځای ته نه وې رسېدلې او د شوروي پوځ له ډېپوګانو، په تېره بیا کابل نه د رایستل کېدو په درشل کې وې.

په دغو وسلو کې د بېلګې په ډول د ځمکې ـ هوا ضد د (هوا ـ ځمکې) امریکایي (ستینګر) توغندي وو. د امریکا پوځ د شوروي دغه توغندي ښه وڅېړل او پربنسټ یې افغان مقاومت ته استول کېدونکي خپل (ستینګر) توغندي جوړ کړل او د شوروي د توغندیو فعالیت یې شنډ کړ.

د امریکا استخباراتو ته پاکستاني استخباراتو د هغو شوروي جوړو وسلو مفصل لیستونه استول، چې کوم ډول یې ترلاسه کول غوارې، او له شوروي پوځیانو نه یې د اخیستو او د شوروي وسلو ډېپوګانو د رسېدو لپاره له افغان منځګړو ګټه واخیستل شوه.

ځينو افغان اسلامپالو ډلو ته د شوروي د پرمختللو وسلو د ځانګړو تکتيکونو کارولو په اړه روزنه ورکړل شوه. بل خوا، په همدې وسيلو سره، د امريکا استخباراتو په افغان پوځ کې ـ چې د شوروي اتحاد ملاتړی و ـ ګڼ افغان جنګي پيلوټان دې ته وهڅول چې له خپلو الوتکو سره وتښتي، په دې سره يې د (ميګ ( ۲۱) ډوله جنګي الوتکې ترلاسه کړې، په تېره بيا ايم ای ـ ۲۴ او ايم ای ـ ۲۵ ډوله جنګي چورلکې.

ان د جګړې په ډګر کې ويشتل شوې شوروي الوتکې د اسلامپالو له خوا ټوټه کېدې او امريکايانو ته سپارل کېدې. د بېلګې په توګه، په ۱۹۸۸ کال، کله چې مجاهدينو سوخوی ـ۲۴ ډوله الوتکه وويشته، پيلوټ يې بېړنۍ ناستې ته اړ شو، الوتکه يې امريکايي استخباراتو ته وسپارل شوه. وروسته په ډاګه شوه چې الوتکه په بريد کې ډېره زيانمنه شوې نه وه.

د مجاهدينو د انعام لپاره، امريکايي استخباراتو دوی ته (ټويوټا) موټر او ځينې راکټونه ورکول. د ويلو ده چې د لوېديلې (سوخوی) الوتکې پيلوټ، چې له مجاهدينو سره اسير شوی و، روسی بريدمن الکسندر روڅکوی و. له ده وغوښتل شول چې له خپل هېواده جلا شي، خو ده غوښتل مسکو ته ستون شي، او هلته د روسيې د ولسمشر د مرستيال درجې ته ورسېد او بيا يې په هغې کودتا کې ګډون وکړ چې د ميخائيل ګورباچوف نظام يې ړنګ کړ او شوروي اتحاد ورسره درې ورې شو.

په افغانستان کې د شوروي اتحاد ضد جګړې د يوه کال لګښت نژدې يو ميليارد ډالر و، خو په دې لس کلنه جګړه کې (چې په پای کې په ۱۹۸۹ کال شوروي له افغانستان نه وتلو ته اړ شو)، د واشنګټن او مسکو ترمنځ ''سړه جګړه'' روانه وه او داسې اټکل نه کېده چې شوروي اتحاد به په دې ډول او داسې چټکۍ سره ړنګ شي.

نو د امریکا پوځي صنعت خپلو ښېړنو او تکتیکونو ته دوام ورکړ. په افغانستان کې د اسلامپالو په مټ د امریکا له لوري راغونډو شویو معلوماتو د شوروي د ټکنالوژیکو اسرارو په کشفولو کې ډېر مهم او اساسي رول درلود، داسې چې وروسته یې د نړۍ په نورو جګړو کې ګټه ترې واخیسته، هېڅ داسې جګړه به نه وه چې امریکا به پکې د جګړې د اور بلېدو ته لمن نه وه وهلې.

## د افغان جهادي تنظیمونو تمویل

په حقیقت کې، د افغانستان جهادي تنظیمونو میلیاردونو ډالرو ته اړتیا لرله، ځکه چې له پیسو پرته جګړه نه شوی کېدای، چا چې پیسې ورکولې هغوی سیاست هم کاوه، نو ددغو افغان جهادي ګوندونو تمویل له کومه کېده؟ او څرنګه کېده؟

د ۱۹۷۹ کال په وروستیو کې کله چې د شوروي پوځیان افغانستان ته ننوتل، د امریکا ادارې ته په افغانستان کې د اسلامي مقاومت د رسمي تمویل څارل اسانه چاره نه وه له همدې کبله یې په دفاع وزارت (پنتاګون) کې په اصطلاح ''تورې بودیجې'' ته مخه کړه، لکه څرنګه چې جان کیلي وایي دغه بودیجه په نړۍ کې د پټو عملیاتو لپاره ځانګړې شوې وه ـ او په پیل کې ښکاره نه وه چې د امریکا تر بیرغ لاندې د هغو رضاکارو 'سخت دریځو اسلامپالو' جنګیالیو شمېر څومره دی، چې ظاهراً د اسلام تر شنه بیرغ لاندې جنګېدل.

د ۱۹۸۳ کال په پسرلي کې، یعنې د شوروي له یرغل دوه نیم کاله وروسته، د شوروي د مبارزې لپاره د اسلامي تنظیمونو د پوځیانو شمېر د شمېرو له مخې د ۸۰ او ۱۵۰ زرو کسانو ترمنځ و. ددغو کسانو سربېره، سلګونه زره نور افغان او پاکستاني ملکي کسان هم وو، چې ځینې وخت به یې جګړې کولې.

لومړی باید دغو جنګیالیو ته تنخاوې ورکړل شوې وای او تنخا یې باید په عادي ژوند کې د عاید له کچې لوړه وای، نو د اتیایمې لسیزې په نیمایي کې جګړې ته د یوه ځانګړي شوي کس تنخا د هغه د رتبې او په جګړه ییز ډګر کې د هغه د مقام پر اساس ټاکل کېده، چې په میاشت کې د ۱۰۰ او ۳۰۰ ډالرو ترمنځ وه، خو د قومندانانو او د هغوی د مرستیالانو تنخاوې بیا ډېرې زیاتې وې. دغه تنخاګانې د ډېری هغو افغان، پاکستاني، جزائري، مصري، فیلیپیني او .... جنګیالیو لپاره د یوه لوی مبلغ په توګه وې، چې د اسلامپالو په لیکو کې جنګېدل. پر تنخاوو سربېره، د وسلو او پوځي تمریناتو لپاره اضافي پیسې پکار وې.

ددې په رڼا کې، د امریکا متحدو ایالتونو په دې ډګر کې کافي تجربه لرله، داسې وسائل او طریقې یې لرلې چې خپل تمویل یې ورباندې پوره کاوه.

په دې سره، له پیله د امریکا او سعودي عربستان ترمنځ سلا دا وه چې په افغانستان کې د 'جهاد' لګښتونه به پخپلو کې سره نیمایي کوي. خو د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ له نیمایي راهیسې، یعنې د شوروي د یرغل له پیلېدو څو اونۍ وروسته، د سعودي ونډه د امریکا پر ونډې لوړه شوه، ځکه چې ''د مملکت دیني ایمان د اسلام ضد بې دینه کمونیستانو پرضد'' مبارزې ته د (العربي) د ایډېټر په وینا، تر ۱۹۸۰ پورې، (توره بودیجه) چې په ګرده نړۍ کې د امریکا د ټولو پټو عملیاتو تمویل ورباندې کېده، په کال کې له ۹ میلیارد ډالرو څخه نه اوښته.

دغه بودیجه په لویو عملیاتو کې کارول کېده، ان تر دې کچې پورې چې پټ ساتل یې ممکن نه وو، لکه پر ایران د امریکایي وسلو د خرڅلاو معامله (چې بیا وروسته 'د ایران ګیټ رسوایي') نوم ورکړل شو او هغه پټ عملیات چې په اتیایمه لسیزه کې لبنان کې د امریکایي یرغمل شویو د خلاصون په موخه ترسره شول. خو د شوروي پرضد د افغانستان جګړه تر ټولو لویه هغه پټه معامله وه چې امریکا پخپل تاریخ کې روانه کړې وه.

نو کله چې ولسمشر رونالډ ريګن سپينې ماڼۍ ته ورسېد، (توره بوديجه) څلور برابره لوړه شوه او تر ۱۹۹۰ کال پورې يې هر کال اندازه ۳٦ ميليارد ډالرو ته ورسېده.

## د يوه ډالر مقابل کې يو ډالر

سعودي عربستان له خپل اړخه د امريکا د هر لګول کېدونکي ډالر په مقابل کې يو ډالر ورکاوه. خو د سعودي ددغې رسمي ونډې سربېره، په افغانستان کې د جهاد په موخه د سعودي او عربانو ميليونونه ډالر نور ځانګړې تمويل هم و. همدا شان، د پور او سوداګرۍ نړيوال بانک يا BCCI (چې د ۱۹۹۱ کال په جولای مياشت کې د لويو مالي رسواييو په لړ کې ړنګ شو) هم د افغانستان د جګړې په تمويل کې مهم رول ولوباوه.

ويلی شو چې د دغې جګړې د تمويل لپاره د امريکا ـ سعودي ايتلاف بيا وروسته په افغانستان کې د جهاد لپاره بوديجوي تخصيص رامنځ ته کړ. خو د امريکا تمويل د هغو لويو هڅو په برکت ډېرېده چې د  کانګرس ځينو سخت دريځو او محافظه کارو غړو له خوا يې هلې ځلې کېدې، دوی په افغانستان کې جهاد د امريکا لپاره يو ښه فرصت باله چې د هېڅ کوم امريکايي له ضايع کولو پرته د شوروي اتحاد ګونډې ورماتې کړي، دوی به ويل: ''په ويتنام کې ۵۸ زره امريکايي پوځيان ووژل شول، موږ بايد له روس نه دا غچ واخلو.''

بيا وروسته ددغو کسانو کينه د ۱۹۸۸ کال د اګسټ پر ۱۷ مه د الوتکې له ناځرګندې پېښې وروسته ډېره شوه، چې د پاکستان ولسمشر ضياء الحق او د امريکايي سفير او په افغانستان کې د امريکايي پوځي اتاشه او په افغانستان کې د جهاد د ملاتړې بهير مهاروونکي د پاکستاني استخباراتو د مشر په ګډون ټول سپاره کسان پکې ووژل شول.

دوی ویل چې دا پېښه د شورویانو له خوا جوړه شوې دسیسه وه. د اتیایمې لسیزې له لومړیو راهیسې، د کانګرس غړو د افغانستان لپاره د بودیجې د تخصیصولو او ډېرولو هڅې کولې او د امریکا اداره یې په دې قانع کوله چې مجاهدینو ته پرمختللې وسلې ورکړي، په تېره بیا د ''ستینګر'' ځمکې – هوا توغندي.

خو یوازې د امریکا دغه رسمي تمویل بس نه و، باید نورې سرچینې هم پیدا شوې وای. – د جان کیلي په وینا - له نېکه مرغه، په رسمي او خاص ډول د سعودي تمویل هم و. دغه تمویل دوو سعودیانو تر ۱۹۷۷ کال پورې د سعودي د استخباراتو پخواني مشر (شیخ کمال ادهم)، او د هغه هغه خوریه شهزاده ترکي الفیصل پرغاړه واخیست، چې نوموړی تر ۲۰۰۱ کال پورې په یاد پوست مشر پاتې شو.

وروسته په ډاګه شوه چې کمال ادهم د نړیوال پور او سوداګرۍ بانک BCCI په قضیه کې ښکېل و، ده د ستونزې د حل لپاره له امریکایي قضاء سره ومنله، چې ۱۰۵ میلیون ډالر غرامت به ورکوي، ښکاره وه چې د امریکا قضایي سیستم په داسې مهال د کمال ادهم تنګول نه غوښتل، چې دی د امریکا د استخباراتو یو باوري سړی و.

محمد حسنین هیکل د BCCI د مهمو غړو په اړه وایي، چې (د سعودي د استخباراتو پخوانی مشر او د پاچا فیصل سلاکار) کمال ادهم یې مهم غړی و او په افغانستان کې یې د 'اسلامي جهاد' لپاره ځان د پیسو د رسولو د ظاهري پله په شان جوړ کړی و. (د BCCI بنسټګر هم یو پاکستانی تاجر اغا حسن عابدي و).

په حقیقت کې دغه بانک په افغانستان کې د اسلامي حرکتونو د تمویل لپاره د امریکا له خوا یوه وسیله او کاربدونکې اله وه. دا سمه ده چې د بانک مشتریانو د ۹,۵ میلیارد ډالرو په زیان سره ډېر منفي اغېز ولید، له بانک ړنګېدو سره ډېر پټ اسرار هم تربت شول، په تېره بیا د امریکا د ناقانونه کړنو او رول په اړه ناڅرګندې کړې، ځکه واشنګټن په ګرده نړۍ کې هغو ترهګرو ډلو او سیاسي حرکتونو ته د نشه يي توکو د سپینو پیسو له لارې پیسې استولې، چې د امریکا د استخباراتو په ګټه یې فعالیتونه مخته وړل.

په دې سره، - لکه څرنګه چې جان کیلي وایي ـ د امریکا ډېر نور پټ رازونه هم د بانک په رسوایۍ کې نغښتي وو او دا ټول د لبنان یوه سوداګر محمد حمود ته معلوم و، نوموړی سپینې مانۍ ته یو نژدې او په بانک کې یو اعتباري سړی و، چې په ۱۹۹۰ کال د ژنیوا په یوه کلینیک کې په مرموز ډول مړ ومونډل شو.

په حقیقت کې، دغه بانک نه یوازې د اسلامپالو د تمویلي شبکې ـ په تېره بیا د پاکستان د څانګو له لارې - رول مخته بېوه، بلکې په ډګر کې یې د یوه فعال اړخ په توګه هم مداخله کوله. د بانک کارکوونکو مستقیماً د کراچۍ پر بندر خپل کنټرول ساتلی و، ددغه بندر له لارې به په افغانستان کې مجاهدینو ته د وسلو بار بېړۍ او کانتینرونه لومړی د پاکستان استخباراتو ته رسول کېدل. د بانک کارکوونکو به ځینې وخت د بډو او کله ناکله د ګواښ په وسیله په دې بندر کې د پاکستان پر ټولو ګمرکونو کنټرول خپلاوه.

د بانک اصلي چلوونکو هم پخپله له امریکا او سعودي عربستان نه د افغانستان خاورې ته د وسلو امبارونه رسول. وروسته په ډاګه شوه چې دوی په ځینو سیمو کې د مجاهدینو او شورویانو ترمنځ د جګړو له کبله له یو لړ امنیتي ستونزو سره مخامخېدل، خو دوی خپلې لارې ته دوام ورکاوه، له وسلو ډک موټر به یې پر ایرانیانو خرڅول.

## اسامه او د بن لادن شرکت

له پیله امریکایان د افغان جهاد لپاره د ناامریکایي تمویلي سرچینو په لټه کې وو، دوی نه غوښتل چې په صحنه کې ځانونه په ښکاره وښيي، خو دا يې هم نه غوښتل، چې جهادي تنظيمونه يې دې له کنټروله ووځي.

له ۱۹۸۱ کال راهیسې، د امریکا د استخباراتو مشر ویلیم کایسي له خپل سعودي سيال شهزاده ترکي الفيصل سره د پټ تمویل پر وسائلو بحث کاوه. د فیصل له لوري په وړاندیز شویو سرچینو کې د بن لادن شرکت هم و، دا په سعودي کې ډېر لوی او د ښه نوم لرونکی شرکت دی. له همدې ورځې د اسلامي حرکت د تمويل لپاره تخصيص ته د پيسو خبره پيل شوه. د بن لادن شرکت يوازې نه و.

ګڼ نور عرب او مسلمان سوداګر هم وو چې په افغانستان کې يې د ښه نيت له کبله د خپلو ورونو همکارۍ ته لاسونه غځولي وو. (په دغو کسانو کې عدنان الخاشقجي هم و، چې نوموړي له امریکایانو سره ټينګ اړيکي لرل، ګڼنور خليجي شتمن او شرکتونه هم وو).

دغو کسانو په اروپا او اسلامي نړۍ کې د خير ښېګڼې کارونو لپاره بې پُرسه پيسې ورکړې، خو په حقيقت کې ډېرې دغه پروژې د اتيايمې لسيزې وروستيو او د نوي يمې لسيزې په لومړيو کې له افغانستان نه د ستنېدونکو اسلامپالو پر اډو بدلې شوې. ورو - ورو، امریکایانو او د دوی سعودي ملګرو ته په ډاګه شوه چې ددوی په لاس دغه جوړ شوي او تمويل شوي اسلامي حرکتونه همدوی ته مخامخ خطر جوړوي.

له افغانستان نه تر ستنېدو وروسته اسامه بن لادن د خپل يمني ملګري طارق الفضلي (چې د حضرموت، يعنې د اسامه د کورنۍ اصلي ټاټوبی دی) په همکارۍ په صنعاء کې د اسلامي حرکت د بنسټ ډېره کېښوده، چې له هغه ځايه د يمن هغه جنوبي برخې په نښه کړي چې شورويانو ته نژدې وې. د يمن جنوب د ۱۹۹۴ کال جګړه کې سقوط وکړ چې دا کار کاملاً د سعودي د ګټو خلاف و.

په چټکۍ سره له تونس، مصر، مراکش، الجزائر، يا بوسنيا، فيليپين، اردن، سودان او يا خليجي هېوادونو نه اسلامپالو د امريکا او سعودي د ګټو خلاف فعاليتونه پيل کړل... دغو خوځښتونو خپلې پانګونې او د خپلواک تمويل د سرچينو برابرول هم پيل کړل. وروسته دا حرکتونه لوی شول او په خليج، افريقا او اروپا کې يې د امريکا د ګټو خلاف عمليات پيل کړل او په امريکا کې يې هم د امريکا ضد فعاليتونه پيل کړل.

په اسلامي نړۍ کې يې لوېديځ ته د نژدې نظامونو ضد کارونه هم شروع کړل. پاکستان او سعودي چې د امريکا ملګري وو، د واشنګټن په موافقې د نوي يمې لسيزې په نيمايي کې د طالبانو په ودې او پرمختګ کې همکاري وکړه او په کابل کې واک ته ورسېده او په دې سره افغانستان په اسلامي نړۍ کې د اسلامي حرکتونو پر يوې اډې بدل شو. په پای کې، وضعيت تر دې حده ورسېد چې په امريکا کې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ پېښې رامنځ ته شوې.

د ويلو ده چې په دې چوکاټ کې، د امريکا متحدو ايالتونو په افغانستان کې اسلامپالو ته د نويو پرمختلليو 'ستينګر' توغنديو يو ډول ورکړ. د الوتکو ضد دغه امريکايي توغندي په افغانستان کې د (امريکايي جهاد) لپاره مهم رول ولوباوه، د شوروي هوايي پوځ او د افغان هوايي پوځ ته يې ډېر زيانونه واړول. خو ددغو توغنديو کارولو کيسه يوازې د اسلامي حرکتونو پروړاندې د امريکا د سياست خطر په ډاګه کاوه.

په دې اړه جان کيلي وايي، په افغانستان کې اسلامپالو ته د ستينگر توغنديو لومړۍ مرسته د ۱۹۸٦ کال پسرلي کې ورسېده، او د شوروي لومړۍ هليکوپټر په اپريل مياشت کې وغورځول شوه. په وروسته لسو مياشتو کې، اسلامپالو ۱۹۰ ستينگر توغندي وتوغول، او ددغه توغنديو په کارولو کې د بريا او هدف ويشتلو کچه ډېره لوړه وه، ځکه په ۱۹۰ توغول شويو توغنديو کې يې ۷۵ سلنه خپل هدف ته ورسېدل.

په پيل کې امريکايي او د پاکستاني استخباراتو روزونکو هڅه کوله چې د ستينگر توغندي کارول له نژدې وڅاري، خو د شوروي پوځ ته ددغه توغندي له برکته د ډېرو اوښتو زيانونو له کبله، او دا چې اسلامپالي يې په يوازې سر په کارولو لاسبري شول، دوی دا څارنه کمه کړه، خو د ستينگر بار موټر به يو پر بل پسې افغانستان ته راتلل، ان تر دې چې مجاهدينو له ستينگر توغنديو سره د 'ليلا او مجنون' په څېر مينه پيدا شوه.

کله چې د شوروي پوځ په ۱۹۸۹ کال له افغانستان نه ووت، د امريکا استخباراتو داسې احساس کړه چې دغه توغندي يې له لاسه وتونکي دي، همدا وو چې اسلامپالو ته يې د خپلو استول شويو توغنديو د پېرلو لپاره پراخې هڅې پيل کړې، خو اسلامپالي قومندانان د خپلو کورنيو پرېښودو ته چمتو وو، خو د ستينگر ورکولو ته نه!.

## پر ايران د ستينگر خرڅول

په افغانستان کې د ستينگر توغندي بيه په بې ساري ډول لوړه شوه، د يوه ستينگر توغندي پر جوړښت د امريکا پوځ ۳۵ زره ډالر لګولي وو. پر دغه لوړ قيمت سربېره، د اسلامپالو قومندانانو قانع کول ناممکن وو چې ګني له ستينگر دې تېر شي.

وروسته روښانه شوه چې دغه توغندي له افغانستان نه وتونکي دي. د ۱۹۸۷ کال په اکتوبر میاشت کې، د امریکا دفاع وزارت ومنله چې ددغه توغندي پرزې د خلیج په اوبو کې د ایران د سمندري ځواکونو په یوې اړوندې بېړۍ کې وموندل شوې. وروسته په ډاګه شوه چې د یوه افغان قومندان ګلبدین حکمتیار یوه نژدې کس د ۱۹۸۷ کال په مې میاشت کې شپاړس ستینګر توغندي په یو میلیون ډالرو د ایران پر سمندري ځواک خرڅ کړي وو.

همدارنګه، د روسانو په یوه راپور کې راغلي چې د ایران پوځ له افغان پولې سره نژدې د ستینګر توغندیو یو بار موټر نیولی، چې یوه برخه یې ایراني ځواکونو ته سپارل شوې، او نور (لس توغندي) قاچاق وړونکو ته ورکړل شوي، چې یو توغندی ورته په ۳۰۰ زرو ډالرو تمام شوی (ځکه دغو قاچاق وړونکو غوښتل له هغو هلیکوپټرو نه ځانونه خلاص کړي چې ځینې وخت به یې دوی ځارل).

دا کار تر دې حده ورسېد چې د (پلار) جورج بوش د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د امریکا استخباراتو د هغو ستینګر توغندیو د بېرته ستنولو په موخه لس میلیون ډالر بودیجه اختصاص کړه، چې د امریکایانو له نظره تري تم شوي وو. خو دغه مبلغ کافي نه وو، په تېره بیا د شوروي اتحاد په ټوټې کېدو وو، او پر پوله پرتو جمهوریتونو ورو- ورو خپلواکي پیل کړه او په تور بازار کې د وسلو په لټه کې شول او ستینګر توغندی خیالي اندازې ته ورسېد. شاید ځینې ستینګر توغندي چیچنیا یا نورو هېوادونو ته رسول شوي وي.

ددې وضعیت په اړه د سیاسي، پوځي او تاریخي درسونو (په تېره بیا د هغو بشري درسونو) پوښتنه راسره پیدا شوه چې د اسلامي حرکتونو په تړاو د امریکا په سیاست کې خلاصه کېدای شوه؟.

د افغان مسلې د پرمختګ د دقیقې کتنې په لړ کې او له اړوندو غاړو سره د امریکا د متحدو ایالتونو د معاملې له کړنلارې او د افغانستان په لانجه کې د شوروي اتحاد د ښکېلولو هڅې او بیا د 'امریکا په جال' کې راګیرېدل ـ چې پکې ګیر هم شول ـ او په افغانستان کې د 'اسلامي جبهې د ملاتړ' لپاره د (عربي او اسلامي) تمویلوونکو او ملاتړو هېوادونو له خوا د امریکا استخباراتو له تېر ایستونکې معاملې په ښکاره په ډاګه شوه چې د امریکا متحده ایالتونه د هغې مشخصې ستراتیژۍ له مخې کار کوي، چې هدف یې پر نړۍ واکمني او د خلکو له طبعي او باطني شتمنیو ګټه اخیستل دي او د افغانستان جګړه یې په لړ کې د امریکا د عدواني ځنځیر یوازې یوه کوچنۍ کړۍ ده، چې د هدف په مټ یې د نړیوالو د غاړې غړۍ شي او دوی پرې زندۍ کړي. په پای کې امریکا په یوازې سر مشرۍ ته ووځي او په ګردې نړۍ خپل راج وچلولی شي.

همدارنګه له دغه سیاست نه بل مهم دا درس اخیستل کېدای شي چې د امریکا متحده ایالتونه ـ په هر ځای او هر وخت کې د نورو استعماري قوتونو په شان ـ هېڅکله د باور وړ نه شي ګرځېدلی، ځکه ګټه یې تر هر باور لوړه ده او له ملګرو یې ګټه اخیستنه خپل پور ګڼي ترڅو یې د وجود د وینې وروستۍ څاڅکی هم وڅېښي، کله یې چې وینې وچې شي او نوره ګټه ترې نه اخیستل کېږي او د ځان په ګټه یې ښه ډېر کار هم ورته کړی وي، نو شا ته یې پرېږدي او په خځلنۍ کې یې اچوي او ضایع کولو یې هم هېڅ پښېماني نه ښیي ...

پردې سربېره، د امریکا متحده ایالتونه پخپله پوهېږي چې د تل لپاره خپلو سیاسي هدفونو ته له اسلامپالو یاغیانو ګټه اخیستل خطرناک تمامېږي، ځکه په راتلونکې کې همدوی د امریکا د ګټو خلاف ګرځي ـ چې دا هر ځای پر هر یاغي تطبیقېږي، او تطبیق شوی ـ همدارنګه د ځمکې پر سر د څه باندې یو میلیارد اوسېدونکو مسلمانانو په منځ کې محرومې طبقې د امریکا ضد دي او یا لا ابالي دي چې په ملاتړ یې تکیه هم نه شي کېدای.

او د لوېدیځ استخبارات هم دا توان نه لري چې 'اسلامي ترهګرې ډلې' پوه کړي او د دقیق کار تمه ترې ولري، دا ځکه چې ددغو ډلو اساسات او هدفونه کاملاً له هغو موخو سره په تناقض کې دي چې لوېدیځ هېوادونه او د دوی استخبارات یې مخته وړي. نو د منځني ختیځ په ټوله سیمه کې د امریکا تاریخ د تېروتنو یو اوږد لیست دی، چې په عین وخت کې له درسونو او عبرتونو ډک هم دی.

لکه څرنګه چې د امریکایي لویې وچې له موجودیت راهیسې په ټوله نړۍ کې دغه تاریخ له وینو تویولو، غوسې، قهر، ویجاړۍ او منظمې لوټمارۍ ډک دی... په دې لړ کې، په لنډو په ټوله نړۍ کې د ولسونو او امتونو په حق کې د امریکا ځینې سرغړونې په لاندې ډول دي:

۱ ـ د ۱۹۴۵ کال په اګست میاشت کې د جاپان هیروشیما او ناګازاکي ښارونه په اټومي بمونو ویشتل او د سلګونو زرو کسانو ډله ییزه وژنه؛
۲ ـ د تېرې پېړۍ پنځوسمه لسیزه کې د کوریا سلګونه زره وګړي وژل او د هېواد ویجاړول؛
۳ ـ په ۱۹۵۴ کال په ګواتیمالا کې مداخله او د واکمن نظام ړنګول؛
۴ ـ د ویتنام سلګونه زره وګړي وژل او د هېواد ویجاړول؛
۵ ـ د ایران د لومړي وزیر ډاکټر محمد مصدق ترور کول او د هغه د ملي واکمن نظام لاندې کول [هغه نظام چې د ایران تېل یې د لوېدیځ له ولکې خپلواک کړي وو]؛
٦ ـ په ۱۹۷۳ کال چیلي کې د سلوادور اللینډې پرضد د خونړۍ کودتا پلان جوړول؛
۷ ـ په نیکواراګوا کې د ساندینیستا پرضد د بندیزونو لګول؛
۸ ـ په لاتینه امریکا کې لسګونه زره انقلابیان وژل، چې په سر کې یې ارنستو چې ګوارا و؛
۹ ـ د ختیځې اروپا ټوټې کول او ملي یووالی یې ړنګول، او ډېری برخې یې توکمیزو دولتونو ته اړول؛

۱۰ ـ د لیبیا پلازمېنه طرابلس په نبنه کول/چې ولسي وګړي پکې ووژل شول او زېربناوې یې ویجاړې شوې؛
۱۱ ـ د عراق ویجاړول او له اقتصادي پلوه کلابند کول، سلګونه زرګونه عراقي وګړي وژل او وږي کول؛
۱۲ ـ د سودان خرطوم کې د درمل تولیدولو پر فابریکې برید کول، او لسګونه کسان پکې وژل؛
۱۳ ـ په افغانستان کې د زرګونو ولسي وګړو وژل؛
۱۴ ـ د څورېدلو ولسونو د ګټو پرضد له مکررې (وېټو) د ګټې اخیستنې حق؛
۱۵ ـ د ولسونو د شتمنیو پرله پسې لوټل؛
۱٦ ـ د امریکا د اصلي اوسېدونکو ''هندي توروپوستانو'' میلیونونه وګړي وژل او د دوی کلتور له منځه وړل. دا ټول د یوسف الجهماني په [توره بوره، د پېړۍ لومړۍ جګړه] کتاب په ۲۱ مخ کې راغلي''؛

## نوی امریکايي ویتنام

د حیرانتیا خبره نه ده چې په افغانستان کې د امریکا پوځي حضور په ویتنام کې د امریکا له شتون سره ورته برخلیک ولري؛ په دې معنا چې افغانستان به لکه څرنګه چې د شوروي پوځ لپاره د ''شوروي ویتنام'' وګرځېد او په ۱۹۸۹ کال له دې هېواده ماتې خوړلې ووتل، د امریکا لپاره به هم دغه هېواد ''نوی امریکايي ویتنام'' وګرځي.

د رحمن بابا ددغه شعر چې ''*کوهی مه کنه د بل سړي په لاره کې، چېرې ستا به د کوهي په غاړه لاره شي*'' سم به امریکایان د ''ویتنام- افغانستان په ډنډ'' کې سرېښ شي، په تېره بیا کله چې هلته د امریکا د پوځي حضور پروړاندې افغان مقاومت دوام وکړي.

لکه څرنګه چې وړاندې په ويتنام کې د امريکا مرکزي استخبارات ناکام شول، که هرڅومره بېلې لارې چارې وکاروي، نو وروسته به هم پاتې راشي او که هره لاره ونيسي، په تېره بيا افغان ولس د مقاومت په يوه جبهه کې د امريکا له خوا د افغانستان لاندې کولو پرضد سره يوموټی شي، نو د ويتنام له جګړې وروسته به د امريکا په مخ کې له ماتې او زوروتون پرته بله چاره پاتې نه شي...

پر دې بنسټ، لاندې پوښتنه پيدا کېږي: واشنګټن ته څه پکار دي چې افغانستان کې ماتې ونه خوري؟، حال دا چې په افغانستان کې هرڅه سرچپه روان دي، هغه هم وروسته تر هغه چې د امريکايانو دا چيغې پورته شوې چې ''واشنګټن په افغانستان او منځنۍ اسيا کې د ''ويتنامي تونل'' خولې ته برابر شوی دی''...؟

دې پوښتنې ته د امريکا د بهرني سياست د شورا يوه لوپوړي شنونکي ايلي ډ. کراکوويڅکي په تفصيل سره د ۲۰۰۲ کال جولای مياشت کې په (ويکلي سټېنرډرډ Weekly Standard) مجله کې ځواب ويلی دی. په دې چوکاټ کې، د (عربي اډېټر) مجلې دا موضوع راخيستې ده چې وايي د (ويکلي سټېنډرډ) مجلې مقاله ډېره مهمه ده، ځکه چې ليکوال او ايډيټر يې په دفاع وزارت او د تېلو د ګټو لپاره د جورج ډبليو بوش (زوی) د ادارې پلويان دي. د مجلې چلوونکي ډېرکله د امريکا د بهرنۍ تګلارې د شورا د وياند چارې مخته وړي، همدا ''د امريکا د ملي امنيت د شورا'' يو کوچنی استازی ګڼل کېږي.

امريکايي سياسي شنونکي ايلي کراکوويڅکي خپلې دې څېړنې ته يو ډيپلوماتيک سرليک غوره کړ: ''افغانستان کې سوله څرنګه راتلی شي؟''. دا ډول سرليک په افغانستان کې د ټيکاو نه راتلو ضمني دلايل هم لېږدوي، ولو که امريکا او سيمه ييز افغان ايتلافي ملګري يې هلته لاسبري ښکاري او په تېرو څه باندې اتو مياشتو کې يې خپلوسی کار کړی.

د ده دا شننه په دې هم مهمه ده چې د امریکا د یوه مهم مرکز له خوا خپره شوې او په افغانستان کې د امریکا د پوځي حضور پتې اندېښنې په ډاګه کوي، چې څرنګه په لړو تلفاتو له دې لانجې ځان په سلامتۍ سره راوباسي.

څېړنه کې ویل شوي: ''په افغانستان کې د سولې راتلو بریا یوه اختیاري مسله نه ده، بلکې د امریکا ملي اړتیا ده. د امریکا وختي پوځي بریاوې او د جګړه ییزو عملیاتو ټیټه کچه، په افغانستان کې د وروستي پوځي ماموریت ختمېدل او د لویې جرګې جوړول اصلاً په افغانستان کې د جعلي پرمختګ د احساس له پیاوړي کولو پرته بله ګټه نه لري.

همدا ټکی په رسنیو کې د امریکا د رسمي څرګندونو څرګندویه دی. دا اندېښنه هم ورسره ډېرېدونکې ده چې د افغانستان په جبهه کې هر پرمختګ هېڅ ظاهري نښګڼه هم نه لري، په حقیقت کې هرڅه د ترینګلتیا لوري ته روان دي. خو په نسبي ډول ډېر کم د ښه والي احساس کېدای شي.

خو دا حالت هم ناوړه کېدونکی ځکه دی که چېرې اوسنی سیاست دوام وکړي نو هلته به موږ خپلې ټولې لاسته راوړنې په سیند لاهو کړو او افغانستان به په داسې ګډوډۍ کې ورټېل وهل شي چې پر خپلې پخوانۍ ګډوډۍ به شکر وباسي ... د تلپاتې حل کیلي د افغانستان له پولو بهر ده، داسې چې د امریکا مشرتابه پکې له زړه نه ریښتینی رول ولوبوي.

افغانستان د ترهګرۍ پرضد جګړه کې د مبارزې تر ټولو لوی ډګر دی، مهم څکه دی چې د بریا د بشپړولو لپاره هر ډول نیمګړتیا به د ترهګرۍ پرضد جګړه کې د پرمختګ پروړاندې نور لوی خنډونه پیدا کړي، که چېرې واشنګټن تر پایه هغه څه کې اراده او هوډ لري چې غواړي یې، نو ترهګرې ډلې او د دوی پالونکي به دا قناعت ترلاسه نه کړي چې ګڼي امریکا به وروسته کوم بل ځای د دوی پرضد جګړه کې ځان ښکېل کړي.

## امریکا افغانستان هېر کړ

پردې سربېره، داسې هم نه ده چې واشنګټن دا ډول تجربه وړاندې او په همداسې ډګر کې نه ده ترسره کړې. د افغانانو او په سیمه کې د نورو وګړو ښه په یاد دي چې په ۱۹۸۹ کال د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته امریکا څرنګه د افغانستان هېرولو ته مخه کړه. که څه هم اوس وضعیت ډېر توپیر کوي، خو هماغه قوي هوډ شته چې دا ماموریت پای ومومي او په افغانستان کې د امریکا د یرغل له پیلېدو راهیسې باید د وتلو چورت هم ورسره وي.

مخکې له دې چې د امریکا د پوځي عملیاتو کچه راټیټه شي، واشنګټن د وتلو لپاره نرۍ اشارې ورکړې او د یوه افغان نظام جوړېدو فکر ورسره پیدا شو. که څه هم د امریکایانو د تمو خلاف پوځي عملیات ډېر اوږده شول، خو د واشنګټن دغه لړ هوډ هم ډېر بدل نه شو او په سیمه کې ډېر داسې اړخونه وو چې په غالب ګومان دا باور ورسره و چې واشنګټن به تر اوږدمهال پورې په افغانستان کې د ځان ښکېلولو ته زړه ښه نه کړي.

په دې تړاو یو ډیپلومات وایي: ''کله چې امریکایان ګومان کوي ګڼي القاعده شبکه یې ختمه کړه، نو د رسنیو استازي هم وځي او کله چې دا کار وشو، د امریکا حکومت خپلې ګټې له لاسه ورکوي''.

د ترهګرۍ پروړاندې جګړې مخته بېولو کې د امریکا د جدیت په تړاو پراخې پوښتنې دا ډول نظر پیاوړ کوي. یوه پاکستاني متقاعد جنرال (چې د پاکستان د پوځي استخباراتو مخکینی مشر و، او اوس په سعودي کې د پاکستان سفیر دی) پر افغانستان د امریکا د یرغل په شپو کې د واشنګټن په اړه داسې وویل:

"په ډېرې غوسې معامله کوي او کله چې امریکا په غوسه شي، سرې باید ځان په اوبو کې غوټه کړي، چې له سترګو یې الونیه شي". خو غوسه شاید تېره او پای ته ورسېږي. ځکه نو چارې بېرته پخواني حالت ته ستنېږي.

لکه څرنګه چې ایلي کراکوویڅکي وايي، په افغانستان کې بریا مهمه ده، ددې لپاره نه چې امریکا هلته خپل پوځي ځواکونه او خپل شان او شوکت ازمويي، بلکې ددې لپاره هم چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه او سیمې وسائل شي او ټیکاو یې خوندي شي، په تېره بیا هغه اسلامپالي چې نیویارک او واشنګټن یې خپل هدف ګرځولی، د اسیا په دې برخه کې د یوه لوی اسلامي دولت د جوړېدو خوبونهویني.

## اسامه او طالبان

د افغانستان تاریخ تل د دوو امپراتوریو د سیالۍ شاهد دی: په شلمه پېړۍ کې بریتانیا او روسیه، او د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالتونه، بیا پاکستانیان له افغانانو سره "ویشتنځي" ته ننوتل، (طالبان) راپورته شول او اسامه بن لادن په ۱۹۹٦ کال افغانستان ته له (القاعدې) شبکې سره ننوت.

افغانستان د نژدې ۳۰ (سیمه ییزو او نړیوالو) ډلو او سازمانونو پر پوځي مرکز بدل شو او هلته د اسلامپالو دا خوب پیل شو، چې د القاعدې شبکې او طالبان د افکارو مطابق یو اسلامي نظام به په منځنۍ اسیا کې جوړ او لمن به یې غځوي. د افغان اسلامپالو له خوا ددغو هدفونو په اړه اعلان په دې معنا نه و چې ګني واشنګټن دوی ډېر ځارل، امریکا مخکې او اوس هم ټولې پېښې له پیله تر پایه پورې د پاکستان د سترګو په مټ ځارلې.

ځکه نو د افغانستان ګاونډیو هېوادونو په پیل کې د روانو پېښو لیرو ابعادو ته ډېر اهمیت نه ورکاوه. که څه هم د منځنۍ اسیا هېوادونو دا وضعیت بابیزه ګڼه، خو وروسته یې سر خلاص شو او د دوی پولو ته د خطر د رسېدو وېره ورسره پیدا شوه. له ۱۹۹۸ کال راهیسې تر ۲۰۰۱ پورې، د وسله والو اسلامي تنظیمونو د نفوذ ډېرېدو او فعالیتونو پراخېدو په اړه دلایل ډېر وو، د منځنۍ اسیا د هېوادونو اندېښنې په ډېرېدو شوې.

په ۲۰۰۰ کال په دغو هېوادونو کې ډېری چارواکو داسې وانګیرله چې طالبان نه، بلکې د القاعدې شبکه یو سرخوږی دی، ځکه نو امریکا باید د موضوع ''یو طرفه'' کېدو ته لاس په کار شي...

له شک پرته د ۲۰۰۲ کال پسرلي کې، وضعیت ډېر خطرناک شو. که په افغانستان کې د امریکایي او بریتانوي ځواکونو د عملیاتو غځېدل په دې هېواد کې د وسله والو ډلو د اندړول ځپ ځپانده کېدو لامل شو، خو د القاعدې یا طالبانو د ډېرو کسانو نه موندل په دې معنا نه وو چې ګني دوی هلته حاضر نه وو، بلکې له امریکایي او بریتانوي ځواکونو سره یې جګړه د (خپ او ترپ) په بڼه بدلېدونکې وه.

ګڼ داسې دلایل هم وو چې د ترهګرو جنګیالي پاکستان ته لېږدېدلي او هلته یې ځان ته ښه پټنځای موندلی دی. که څه هم ډېری یې په شمال ختیځ سرحدي ایالت کې ـ چې د حکومت ډېر واک هم وربانديې نه و ـ سره راغونډېدل، خو داسې رپوټونه هم وو چې د پاکستان په نورو ښارونو کې هم د دوی غړي شته.

له دوی سره په ښکاره د پاکستاني اسلامپالو لسګونه زره وسله وال او ملګري غړي د پاکستان د حکومت د ننه یوځای شول. دا هم لیرې نه ده چې د پاکستان د ننه د تاوتریخوالي د پېښو او ''ځانمرګو بریدونو'' ډېرېدل نېغ په نېغه افغانستان کې د جګړې له تېزېدو سره تړلي وو.

ددغه انځور په اړه کراکوویځکي وایي، ښکاري چې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو د مداخلې د وېش په تړاو خپلې پخوانۍ رویې ته مخه کړې ده، په دې هیله چې امریکا به د کړکۍ د پرانیستو لپاره د منځلاري رول ولوبوي.

که څه هم کاملاً د پېښېدو امکان یې کره نه و، خو دغه هېوادونه له خپلې ونډې سره سم د مداخلې له لارې نورو ته د ډګر پرېښودو ته ځان کونج ته کوي. له همدې کبله یې هڅه دا ده چې د خپلې انفرادي موافقې لپاره ډېر څه ورکړي. هر هېواد د خپلې خوښې ډلې/ډلو ته وسلې ورکوي او په دې طریقې سره توکم پالنې او قوم پرستۍ ته لمن وهي.

که ایران ته ځیر شو، نو وبه مومو چې له ډېرو کلونو راهیسې د شمالي ټلوالې ملا تړي، هغه ټلواله چې تر ډېره د کورني واک ترلاسه کولو هڅه کوي، خو وړاندې ایران یوازې پر افغان شیعه ګانو خپل ملاتړ ورټول کړی و. روسانو او ازبکانو هم د شمالي ټلوالې د ملېشو ملاتړ کاوه.

خو پاکستاني حکومت کې داسې عناصر شته چې د دوديزو ډېرکيو (اکثريت) پښتنو افغانانو ملاتړ ته دوام ورکوي. د کراکوويڅکي په وينا، د افغانستان په گاونډيو هېوادونو کې تر ډېره بريده د ايران فعاليت او رويې ته د مزاحمت کوونکي په سترگه کتل کېږي.

تهران نه يوازې د افغانستان په مسلو کې مداخله کوي، بلکې په شدت او فعاليت سره د منځنۍ اسيا په هېوادونو کې د وسله والو ډلو ملاتړ کوي او روزنه ورکوي. دا خو لا پرېږده چې په ښکاره په منځني ختيځ کې د وسله والو ملېشو او تنظيمونو ملا تړي. په دې سختو شرايطو کې په واشنگټن کې بايد موږ سولې راتلو ته دوام ورکړو.

## د ايران انزوا پکار ده

د کراکوويڅکي په وينا، هغه پاکستانی جنرال چې په دې څېړنه کې د نمونې په توگه راوړل شوی، يوه ډېره مهمه مسله روښانه کوي، چې وايي: ''کله چې بوش ظاهراً د ترهگرۍ څپلو پر وړاندې د واشنگټن له هدفونو پرده پورته کړه او د هغو هېوادونو معلومولو لپاره يې اعلان وکړ، چې له دوی سره درېږي او يا نه درېږي او کله چې بوش پر افغانستان يرغل وکړ، د خلکو په منځ کې وېره پيدا شوه.

کله چې بوش د (شرارت محور) خبرداری ورکړ او هغه هېوادونه يې ـ چې له دغه محور سره خواخوږي لري ـ وگواښل که خپلې لارې بدلې نه کړي، شايد دوی هم هدف وگرځول شي، خلکو داسې انگيرله چې شايد هغه جدي وي.

خو د امریکا هغه کړنې چې له دغو څرګندونو وروسته روښانه شوې، د بوش د جدیت په اړه ځینې شکونه پیدا کړل. شاید پاکستانی جنرال به په حقه و، ځکه داسې احتمال شو چې واشنګټن دې د افغانستان پرضد د غوسې له کبله ګام اخیستی وي.

شاید امریکایان په بشپړه توګه د راتلونکې په اړه ممکنه خطرونه درک نه شي کړای، خو پر دې پوهېږي چې د افغنستان ګاونډي هېوادونه پر دې ښه پوهېږي. د افغانستان اقلیتونو ته اهمیت ورکول د توکمیزو ډلو په ملاتړ کې نغښتی دی، په همدې کچه، باید په لویو جنګي جرمونو کې ککړ افغانان په حکومت کې شریک نه شي بلکې وشړل شي.

د بېلګې په توګه، عبد رب الرسوف سیاف او ګلبدین حکمتیار باید لیرې کړل شي. ځکه دواړه د افغنستان په کورنیو چارو کې د ګاونډیو هېوادونو د مداخلې خطر ته لاره هواروي، په دې چې دواړه د سعودي پر ملاتړ تکیه کوي او د پاکستان مالي او سیاسي ملاتړ ورسره دی.

په دې وخت کې تر هر بل څه وړاندې د واکمن نظام لپاره د امنیت راوستل تر ټولو مهمه مسله ده، د نوي پوځ جوړول او سمبالول هم طبیعي ده چې ډېر وخت به نیسي، ځینې خلک وایي چې داخلي امنیت د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د نړیوالو ځواکونو په مېشتېدو او پراختیا پورې تړلی دی، نه دا چې یوازې پلازمېنې کابل پورې محدود وي.

شاید د کورني امنیت راتلو لپاره غوره او ډېره فعاله او له اقتصادي پلوه ګټوره لاره دا وي چې د امریکا د ځانګړو ځواکونو ځینې کنډکونه په لویو ښارونو کې مېشت شي، او د امریکا د ګرځنده پوځیانو ګزمې ډېرې شي.

له شک پرته د دغې ستراتیژۍ عملي کول په دې معنا نه دي ستونزې به نه وي. ایران دلته لوی رول لوبوي. دلته مسله پر دې پورې اړه لري چې ایا ایران به د سیمې هېوادونو له ګډ چوکاټ سره یوځای شي او د وسله والو ډلو په ملاتړ کې د ایران قوي رول تهران دې ته چمتو کوي چې روان وضعیت ونه شي زغملی او خپل باور پرې بایلي.

نو موږ باید له ایران سره په دې مسلو کې مخامخ شو. د بوش اداره باید په‌ښکاره ځان پوه کړي چې د ایران په څېر هېواد کې ګڼ نا ایراني ولسونه هم اوسېږي او د افغانستان او یا نورو هېوادونو په څېر د ګڼ توکمیزه دولت تخریبول شاید ایران ته هم خطرونه پېښ کړي. کراکوویڅکي زیاتوي موږ هم باید ورته لوبه وکړو.

خو په سیمه کې د هېوادونو شورا او د واشنګټن په ګډون ـ خو نه حضور سره ـ باید د ایران انزوا ډېره شي چې په پای کې خپلې رویې او سیاست بدلولو ته اړایستل شي. [د ایلي کراکوویڅکي خبرې ختمې شوې].

له نړیوالې جګړې وروسته، په هره کچه په افغانستان کې د حالاتو پربنسټ موږ داسې پایله ترلاسه کوو چې چې وضعیت ناسم لوري ته روان دی.

نو د امریکایي کارپوهانو ځانګړې سپارښتنې شاید د امریکا پر هیبت او نړیوال نوم او نښان منفي اغېز وکړي؛ ځکه که په افغانستان کې بوش ناکام شي، نو په ټولو راتلونکو جګړو کې به ماتې خوري، په دې هم پوهېږي چې په افغانستان او منځنۍ اسیا کې واشنګټن د (ویتنام تونل) ته نژدې شوی او مداخله د امریکا هیلې نه شي پوره کولی، ځکه چې لار یې په ګلونو نه ده فرش کړې، خو ډول ډول او په بېلو بېلو ماینونه پکې کرل شوي او په منځنۍ اسیا کې د

امریکایي ایتلاف وړاندیز شوې سناریو ددې لپاره نه ده چې په افغانستان کې د روان وضعیت د مخنیوي او درولو په خاطر ایران انزوا ته ته کړي، بلکې دا د امریکایي وېرې او خطرونو د ځنځیر یوه کړۍ ده.

د امریکا له خوا به د افغانستان تابع کولو لړۍ روانه وي او د پوځي برید ثمره به د بوش اداري ته پاتې شي، چې وايي د واشنګټن تر څارنې لاندې (نړیوال سیمه ییز ایتلاف) [د بیا رغونې او پرمختګ کنفرانس] دغه هدف ته د رسېدو لپاره غوره خبره ده.

د امریکا مرکزي استخبارات هم له پېښو لیرې نه دي، بلکې د پېښو منځ کې دي، دا ځکه چې روانه (لوبه)''استخباراتي لوبه'' ده چې ډېرې ناکامۍ او برياوې ورسره تړلې دي.

## اخځليکونه


1. محمد حسنين هيكل ''له نيويارکه تر کابله''. المصرية، للنشر العربي و الدولي، قاهره. فبروري ۲۰۰۲ ص ۲۲۴ ـ۲۴۴.
2. باب ووډوډ ''حجاب / د امريکا د مرکزي استخباراتو پټې جګړې''. دار الحرف او دار المناهل. بيروت. لومړی چاپ ۱۹۸۹، ص ۲۷۲ ـ۲۷۴.

3. احمد رشيد طالبان: د اسيا په منځ کې اسلام، نفت او لويه شخړه''. لندن. دربيم چاپ ۲۰۰۱.
4. جان کيلي ''نامقدسې جګړې: افغانستان، امريکا او نړيواله ترهګري''. دربيم چاپ ۲۰۰۱.
5. الکسندر کاکبيرن او جيفري سان کلير ''د واقعيت مينځل'' (د امريکا د مرکزي استخباراتو سازمان او خبريالي). لندن ۱۹۹۸.
6. ''واشنګټن پوسټ'' ورځپاڼه ۳۰/۳/۱۹۸۶ او ۱۰/۹/۱۹۸۹ او ۱۳/۱/۱۹۸۵.
7. ''نيويارک ټايمز'' ورځپاڼه، ۱۳/۴/۱۹۷۹.
8. د لندن ''لاس انجليس ټايمز'' ورځپاڼه، ۱۷/۱۰/۱۹۸۸.
9. يوسف الجهماني ''توره بوره، د پېړۍ لومړۍ جګړه'' (د امريکايي صهيونېزم لويه دسيسه). دمشق، لومړی چاپ ۲۰۰۲.
10. ويليم بلوم ''دوی هيله وژني: له دويمې نړيوالې جګړې راهيسې په نړۍ کې د سي ای اې مداخلې''.